# هیرې شوې پېړۍ

# د اسلام زرین دور



**لیکوال: شوکت زماني**

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کتاب ځانګړنې:


د کتاب نوم: هېرې شوې پېړۍ: د اسلام زرين دور

ليکوال: شوکت زماني

ځانګړې مننه: روح‌الله يوسف زاده، محمدخان حميدزی، معروف افغان، مسعود رښتين او سردارولي سرحدي

چاپوونکی: مازيګر خپرندويه ټولنه

چاپ‌کال: ۲۰۲۶

چاپ شمېر: ۲۰۰۰ ټوکه

د خپرونو لړۍ: اول

ويب پاڼه: www.shaukat-zamani.com



د چاپ حق: شوکت زماني (©۲۰۲۶)

# سریزه

**د هېرو شویو پېړیو هېرې شوې خاطرې**

**ځو ورځې وړاندې راته مسعود رښتین ورور د پیاوړي لیکوال؛ شوکت زماني د یو نوي اثر یادونه وکړه او دا یې هم وویل چې که یوه سریزه پرې ولیکې. دا مهال زه په سفر کې وم، ما ورته وویل په وټساپ یې راولیږه. ده کتاب ژر راولیږه، الوتکې ته چې پورته شوم، نو تر الوت وړاندې پیلوټ وویل چې تر کابله نږدې پینځه ساعته مزل دی، ژر مې په ټلیفون کې کتاب پرانیست. (هېرې شوې پېړۍ - د اسلام زرین دور). په زړه پورې عنوان و. د کتاب تر پیژندنې وروسته د کتاب متن ته داخل شوم، څومره چې مې د کتاب متن لوسته، خوند یې زیاتیده، په پینځو ساعتونو کې مې ټول کتاب ولوست. سره له دې چې په الوتکه او موټر کې متواتره مطالعه د سر پر فشار سخت تاثیر کوي، خو په دې کتاب کې دومره جذابیت و چې زه یې مخ اړولو ته پرینښودم.**

**په کتاب کې د اسلامي نړۍ د پینځو پیړیو زرین دور څېړل شوی دی. له اتمې میلادي پېړۍ څخه بیا تر دیارلسمې پېړۍ پورې زمانه په غیږ کې نیسي. دا هغه پړاو و چې غربي نړۍ لا د انحطاط د زر کلن خوب ټولې ځپې نه وې پوره کړې چې اسلامي نړۍ ټول جهان ته د علم، ادب، ساینس، فلسفې، ریاضیاتو، ستورپوهنې**

او نورو ډګرونو کې داسې ستر ستر شخصیتونه ډالۍ کړي وو. په دې شخصیتونو نه یوازې اسلامي نړۍ روښانه وه، بلکې د همدې عالمانو تفکرات وروسته په اروپا او غربي نړۍ کې د رنسانس او فکري انقلاب سبب شول او اروپا یې د مذهبي افراط تر فشار لاندې له زر کلن درانه خوبه راویښه کړه.

لیکوال په دې برخه کې یوازې د یوولس تنه هغه پوهانو لنډه پېژندنه رااخلي چې د علم په یو ډګر کې یې تلپاتې خدمتونه کړي دي. په دې برخه کې د افغان پوهانو ونډه هم د پاملرنې وړ ده.

ابن سینا، ابن رشد، خوارزمي، البیروني، الجزري، رازي، فارابي، ابن خلدون، الکندي، البیطار او ابن الهیثم، هغه پوهان دي چې په دې اثر کې یې پېژندنه او د کارونو یادونه شوې ده. دا اثر په داسې یوه هنري او داستاني ژبه لیکل شوی چې لوستونکی پکې د ستړیا احساس نه کوي. کله چې د یو عالم ژوند لولې، نو تا لاس نیولی هغه چاپېریال ته بیايي چې هغه عالم پکې روزل شوی او رالوی شوی دی. د هغه چاپېریال اغېزې او انګېرنې ټولې دې له نظره تیرېږي. کتاب په یو ارمان پیل شوی او په یو ارمان پای ته رسیږي. لیکوال دا کتاب په دې نیت پیل کړی چې خلکو ته وښيي څنګه چې موږ اوس یو، پخوا داسې نه وو او څنګه چې اوس یو، اینده کې باید داسې نه اوسو. په همدې خاطر خو دی د اسلامي نړۍ پینځه داسې طلايي پېړۍ معرفي کوي چې نه یوازې د مسلمانانو، بلکې د ټول بشریت لپاره د علم او ادب په برخه کې زرینې پېړۍ وې.

لیکوال په ډېر ظرافت سره د عقایدو او تجربه يي علومو ترمنځ انډول ته اشاره کړې او دا يې څرګنده کړې ده چې عقیدوي بار باید دومره دروند او افراطي نه شي چې د عقلانیت او تجربوي علومو مخه ونیسي. څرګند مثال يې په عیسویت کې د افراطي نظریاتو حاکمیت و چې پوره زر کاله يې په اروپا کې د مدنیت او تجدد مخه ونیوله.

لیکوال په خپل دې اثر کې دا پیغام ورکوي چې غربي نړۍ د اسلامي نړۍ د عالمانو د افکارو تر مطالعې وروسته د ویښتابه پړاو ته ورسیدله او د ساینس او ټکنالوژۍ په مرسته يې په نړۍ کې عقیدوي مسیرونه بدل کړل.

په دې اثر کې هیله څرګنده شوې چې هر مسلمان په تیره بیا افغان مسلمان باید خپل تیر برم او تاریخ راژوندی کړي او د عقایدو او پرمختګ ترمنځ باید انډول وساتي.

په کتاب کې په سلګونه پیغامونه راټول شوي دي. لیکوال خپل دا اثر په یو لوی ارمان او پیغام پیل کړی او بیا يې په اسلامي نړۍ کې د علم او پرمختګ د رڼا د بیا خپریدو پر همدې لوی ارمان پای ته رسولی دی. په اثر کې خوندي شوي پیغامونه یو بل سره داسې نغښتي چې سړی فکر نه کوي کوم تصنعي رنګ او یا دې وچه شعاري بڼه ولري. د اثر نثر دومره خوږ، نرم او جذاب دی چې محتوا ته يې دومره خوند ورکړی چې له کوم فشار او ستړیا پرته سړی د ټولو پیغامونو تل ته وروستلی شي.

کتاب ډیر نرم، خوږ او ارماني دی، زه نه غواړم چې په خپلو خبرو تاسې د کتاب له خونده لیرې وساتم. نو ژر مو د کتاب لوستلو ته رابولم، پیاوړي لیکوال (شوکت زماني) ته یې د لا بریا لپاره دعاګانې کوم. په پښتو ژبه کې د داسې نورو لا زیاتو مالوماتي اثارو په هیله.

په مینه

محمد اسمعیل یون

کابل - افغانستان

د ۱۴۰۴ ل کال د لیندۍ ۲۸مه

# لړلیک:


۱- پېژندنه ........................................ ۸

۲- د دې کتاب د لیکلو الهام ........................ ۱۰

۳- ډالۍ ............................................ ۱۵

۴- د بلخ کوچنی هلک ................................ ۱۷

۵- یو عجیب ښار، یو عجیب علمي مرکز او............. ۳۱

۶- د نړۍ په مشهوره نقاشۍ کې انځور شوی سړی ........ ۳۸

۷. د الجبر پلار ....................................... ۴۹

۸ - تبصره .......................................... ۵۵

۹- یو رښتینی بحرالعلوم .............................. ۵۸

۱۰- یو عصري مخترع .................................. ۶۷

۱۱- د نړۍ نومیالی طبیب ............................... ۷۶

۱۲- دوهم ښوونکی .................................... ۸۸

۱۳- درې بنسټیزې پوښتنې ............................. ۹۸

۱۴- د ټولنیزو علومو پلار ........................ ۹۹
۱۵- د عربي فلسفې پلار ........................ ۱۰۹
۱۶- تبصره ........................ ۱۱۸
۱۷- د درمل پېژندنې پلار ........................ ۱۲۰
۱۸- د لید او رڼا پوهنې پلار ........................ ۱۲۸
۱۹- ولې اسلامي زرین دور له زوال او انحطاط سره مخ شو؟... ۱۳۶
۲۰- ولې لویدیځ بریالی شو؟ ........................ ۱۴۲
۲۱- زموږ له شرمه ډکه کیسه ........................ ۱۴۶
۲۲- وروستۍ وینا ........................ ۱۴۸

# پېژندنه

دا کتاب د هېر شوي اسلامي زرین دور او د هغه دور د هېر شویو اتلانو کیسه ده.

اسلامي زرین دور د فکري او کلتوري لاسته راوړنو هغه حیرانوونکی دوران و چې له اتمې څخه تر دیارلسمې زیږدیزې پېړۍ پورې په اسلامي نړۍ کې رامنځته شو. په دې دور کې مسلمانو پوهانو د بیلابیلو علومو لکه ریاضیات، طبابت، فلسفه، ادبیات، ستور پوهنه او معماري په ډګر کې ستر پرمختګونه وکړل.

په داسې حال کې چې اسلامي نړۍ په نوښتونو، اختراع ګانو او نویو پنځونو بوخته وه، لویدیځه نړۍ په ۱۰۰۰ کلن خوب ویده وه.

خو اوس چې موږ خپلې علمي ریښې هېرې کړې دي نو د نړۍ د پرمختګ په کښتۍ کې په خوبولیو مسافرو بدل شوي یو.

په موږ څه وشول؟ او ولې پېړۍ تیرې شوې خو موږ لا هم د غفلت په خوب ویده یو؟

ما په دې کتاب کې هڅه کړې چې دې ډول پوښتنو ته یو څه ځوابونه پیدا کړم.

دا کتاب د دې حقیقت قوي ثبوت دی چې موږ د ختیځ اوسیدونکي د ژور فکر، نوښت ځواک، پنځونې او اختراع

خاوندان وو او دا مو د پینځو پیړیو څخه د ډیر وخت لپاره ثابته کړې ده.

په دې کتاب کې، تاسې د افغانستان نوي نسل ته د اسلامي زرین دور د ۱۱ اتلانو کیسې وړاندې کوم.

هیله لرم چې دا کتاب به ستاسې د ذهنونو بدلون ته چټکتیا ورکړي ترڅو زموږ تیرې علمي لاسته راوړنې وڅیړئ او د یو غوره افغانستان جوړولو لپاره لاره هواره کړئ.

# د دې کتاب د لیکلو الهام

پینځه کاله پخوا مې هغه عجیبه شپه ښه یادیږي. د سهار درې بجې وې. باد را الوتی و او د نرې نرې باران غږ مې تر غوږونو راتللو چې زما د کوټې په کړکۍ لړیده.

د خوب په بستره کې لټ په لټ اوښتم، په داسې حال کې چې ځینې پوښتنې مې په فکر کې راتللې چې ډیرې خواشینوونکې وې: د مسلمانانو په ملتونو څه شوي دي؟ ولې دومره وروسته پاتې یو او د اسلامي نړۍ د پاتې راتلو او زوال لاملونه څه دي؟

دا واقعیت چې نړۍ دومره پرمختګ کړی دی دوی درې صنعتي انقلابونه په بریالیتوب سره ترسره کړي دي چې په پایله کې یې مختلف شیان جوړ کړي دي لکه بریښنا، تلیفون، الوتکه، موټر، انټرنیټ او داسې نورې په زرګونه اختراع ګانې او نوښتونه یې کړي خو زموږ مسلمان ملتونه لکه د ژمي په دراندہ خوب ویده او د درییمه درجه انسانانو په څیر د پرمختګ او ښیرازي له دې کاروان وروسته پاتې یو چې ډیر سخت یې ځورولم.

له ځان سره مې فکر وکړ: ۳۴ کاله کیږي چې پرمختللې نړۍ کې ژوند کوم. په دې کلونو کې د ډیرو پرمختګونو لیدونکی یم چې د هغو له ډلې څخه یې د بیوزلۍ له منځه وړل، د لوست کچه تر سل سلنې لوړول، د ټولو لپاره وړیا روغتیایي چوپړتیاوې او د

زدکړو زمینه برابرول، د غوره زیربناو رامنځته کول او د چاپېریال ساتنه شامل دي. خو په عین حال کې اسلامي ټولنې لا هم ډیرو کوچنیو سـیاسي، ټولنیزو او اقتصـادي سـتونزو سره لاس او ګریوان دي او هر څه ورځ تر بلې خرابیږي.

هغه څه چې زه یې ډیر ځورولم هغه دا حقیقت و چې د افغانانو او په ټولیزه توګه د ډیری مسـلمانانو ذهنیت اوس هم په اوولسمې، اتلسمې او نولسمې پېړۍ پورې تړلی دی.

له خپل ځان څخه مې وپوښتل: ولې داسې شوي دي؟

په هغه شـپه زما له سـترګو خوب وتښـتید، ځکه د دې ډول فکرونو سیلاب مې په ذهن کې څپې وهلې.

دا زما لپاره حیرانوونکې نه وه چې د اوږدې مودې له بې خوبي څخه وځوریږم. د نولس کلنۍ څخه د بې خوبي څخه ځوریدم. نږدې هره شپه به د ایراني فیلسوف او انقلابي شخصیت، علي شریعتي او د سـید جمال الدین افغان افکارو زما په ذهن واکمني کوله. ځینې وختونه به د لویدیځ فیلسـوفانو نظریې هم زما په ذهن کې راتللې.

زه په یو داسې حالت کې وم چې د علي شریعتي "هبوط در کویر" مفهوم یې ښـه بیانولی شي. له بلې خوا، زه تل د سـید جمال الدین افغان د اسـلامي فکر د بیا ژوندي کولو د نظریې په اړه په فکر کې وم او تل به مې دا په ذهن کې راتلل چې د سـید جمال الدین افغان د "بیا ژوندي کولو" څخه موخه څه وه.

د سهار ۴ بجې شوې چې بالاخره زما په ګوتو کې دومره توان پیدا شو چې وکولی شم په ګوګل (Google) کې یوه پوښتنه وپلټم. پوښتنه دا وه چې "په اسلامي نړۍ څه شوي دي؟" په ډیرې حیرانتیا سره چې زما د لټون په پایله کې یو کتاب تر لاسه شو چې عنوان یې و"څه غلطي وشوه؟" د اسلام او عصریت ټکر (What Went Wrong? The Clash Between Islam and Modernity). د دې کتاب لیکونکی برنارډ لوییس (Bernard Lewis) دی.

د سهار تر ۶ بجو پورې په ګوګل کې زما څیړنه او پلټنه د دې لامل شوه چې "د اسلام زرین دور" په نوم یو بنسټیز مفهوم ترلاسه کړم. کله چې د دې مفهوم سره مخ شوم، نو یوه شیبه ګیچ پاتې شوم، خو وروسته مې په ذهن کې د پوښتنو توفانونه را والوتل. له خپله ځانه مې وپوښتل: ولې ما مخکې د دې ښکلي مفهوم په اړه څه نه وو اوریدلي؟ د اسلام زرین دور څه شی دی؟ دې دورې څه لاسته راوړنې درلودې؟ او د دې دورې اتلان څوک وو؟

د سهار ۸ بجې کار ته ولاړم، خو ما لا هم د اسلام زرینې دورې د مفهوم په اړه فکر کاوه. په همدې تلوسه کې وم چې هر څومره چې ژر کیږي باید کور ته لاړ شم او خپلې څیړنې ته ادامه ورکړم.

کله چې کور ته راستون شوم، د برنارډ لوییس په اړه مې ډیرې پلټنې وکړې او پوه شوم چې هغه په اسلامي نړۍ کې د زوال او رکود د نظریې په برخه کې د نړۍ مخکښ کارپوه دی. په همغه ورځ مې هغه کتاب له امریکا څخه راوغوښت چې نوم یې و ”څه غلطي وشوه؟“ همدارنګه د برنارد لوییس درې نور کتابونه مې هم په امازون کې چې په الکترونیکي (e-book) بڼه وو، واخیستل.

د ۱۲ میاشتو پرله پسې مطالعې په پایله کې مې د برنارډ لوییس دغه څلور کتابونه ولوستل. د هغه د کتابونو هر څپرکي زما په ذهن کې لسګونه پوښتنې را پیدا کړې.

همدارنګه د اسلام د زرینې دورې په اړه مې هم لسګونه کتابونه ولوستل، او د هر لغت، جملې او هر څپرکي لوستل مې په ډیره لیوالتیا سره پای ته ورسول.

زما لپاره تر ټولو زیات د حیرانتیا وړ دا حقیقت و: په داسې حال کې چې زموږ اسلامي نړۍ د اسلام زرینه دوره کې د پرمختګ په حال کې وه او په پرله پسې توګه نوښتونه کیدل او ویاړونه ترلاسه کیدل، لویدیځې نړۍ د تیارو په پیړیو کې ژوند کاوه.

زه غواړم چې تاسې د اسلام زرینې دورې په یو زړه راښکونکي سفر بوځم. زما تمرکز په دې سفر کې د اسلام د زرینې دورې د نه هیریدونکو اتلانو په ژوند او لاسته راوړنو دی. دغه لوړو شخصیتونو نه یوازې د هغه وخت ختیځ جوړ کړ، بلکې

لویدیځ کې یې هم نه هېریدونکي اثار پرېښودل. د دوی بې ساري خدمتونه په یو ځانګړي وخت او ځای پورې و نه تړل شول بلکې انساني ټولنې یې په دوارو جهانونو کې د دوی د خدمتونو منونکې دي.

مونږ باید لږ تر لږه دا وکولی شو چې د دغه لویو شخصیتونو مقام ته درناوی وکړو، وېې نمانځو او د هغوی تلپاتې میراث د خپل ژوند لارښود وګرځوو.

زه د یوویشتمې پېړۍ د وروستیو مطالعاتو په رڼا کې د دغه اتلانو کیسې تاسې ته وړاندې کوم.

# ډالۍ

د افغانستان نوي نسل ته:

دا کتاب تاسې، ستاسې بچیانو او لمسیانو ته ډالۍ دی.

زه دا فلسفي اثر د تاریخ په هغه دور کې وړاندې کوم چې په لویدیځه نړۍ کې "د توجه اقتصاد" (Attention Economy)په نوم پیژندل کیږي.

"د توجه اقتصاد" هغه نظریه او مفهوم دی چې د تمرکز د کمیدو او د فکر د ګډوډۍ حالت ته اشاره کوي، کوم چې د "مالوماتو د عصر" (Information Age) په راڅرګندیدو سره، په ځانګړي ډول د ټولنیزو رسنیو تر اغیز لاندې، د انسانانو ژوند ته ننوتلی دی. له همدې امله زموږ پام او حواس له بنسټیزو او مهمو موضوعاتو څخه سطحي او کله کله هم د بې ارزښته موضوعاتو په لور اړول کیږي، هغه موضوعات چې په ټیک ټاک، انسټاګرام او د فیسبوک په شان پلټفارمونو کې په پراخه توګه خپریږي.

په داسې حالاتو کې چې علمي او اکاډمیکو موضوعاتو ته کمه پاملرنه کیږي، نو د لیکونکي لپاره د فلسفي او علمي کتابونو لیکل د قمار په څیر ګڼل کیږي.

سره له دې، هیله مند یم چې د دې کتاب خبرې او پیغام به د ځو لیواله او ځانګړو لوستونکو په ذهن او فکر کې انګیزې پیدا

کړي او داسې اغېز به پرېږدي چې د هغوی په برخلیک کې ژور بدلون راولي.

تولې هغه مهمې پوښتنې چې فیلسوفانو د تاریخ په اوږدو کې د هغو د ځواب موندلو لپاره هڅه کړې، نن هم په رښتینې مانا ژورې پاملرنې او څېړنې ته اړتیا لري، زموږ اوسنۍ ستونزې نه یوازې چې ډېرې شوې بلکې لا پېچلې شوې دي او د هوښیارانه حل لارې غوښتنه کوي.

هیله مند یم چې د دې کتاب هره پاڼه ولولئ. د خپلو اتلانو زړه راښکونکې کیسې کشف کړئ. هغوی د ډېر لوړ فکر لرونکي وو چې بې شمېره نوښتونو یې نړۍ ته ښکلا وروبخښله. د هغوی بې سارې پوهه چې موږ ته په میراث راپاتې ده باید د خپل فکري ژوند لارښود وګرځوو.

# د بلخ کوچنی هلک

په ۹۸۷ زیږدیز کال (یا ۱۰۳۷ کاله پخوا) د بلخ په زړه کې د ساماني امپراتورۍ د منځنۍ طبقې یوه کارکوونکي د خپل اوه کلن زوی لپاره په زړه کې لوی لوی ارمانونه درلودل. هغه کلک باور درلود چې د هغه د زوی په بخت کې رڼا شـــتون لري. د هغه په فکر کې به تل دا خبره را ګرځیده چې یوه ورځ به یې زوی د پاچا په دربار کې لوړ مقام ته ورســـیږي، چې دغې لاســـته راوړنې نه یوازې هغه د ستر نوم خښتن کاوه بلکې د دوی د کورنۍ راتلونکی هم ورسره تضمین کیده.

په ورته وخت کې، د هغه مورکۍ چې له بخارا څخه وه، چې د سامانیانو د امپراتورۍ پلازمینه وه، د خپل زوی د بریا په خاطر د خښتن تعالی دربار ته لاسونه لپه کړي وو.

خو دغه له ولولو ډک ماشـوم په خپل زړه کې لکه د اسـمان په څیر پراخې هیلې درلودې. د هغه نه ختمیدونکې کنجکاوۍ هغه د نړۍ د حیرانتیاو په ســـفر ګرځاوه او د هغه کلک هوډ د دې لامل کیده چې د نوموړي خوبونه په واقعیت بدل شي.

دغه تنکی ځوان په لس کلنۍ کې د پام وړ مرحلې ته ورسید. هغه ټول قرآن شریف حفظ کړ.

د کوچني ماشوم د قرآن شریف او ادبیاتو ښوونکي له پیل څخه د هغه هوښیارتیا درک کړه. له لومړۍ ورځې هغه پوه شو چې دغه کوچنی ماشوم له نورو ماشومانو سره توپیر لري او ډیر ځیرک دی. نوموړي خپل درسونه په ډیره چټکتیا سره زده کول چې دغې چارې ښوونکی حیران کړی و. تر دې چې د دغه هلک د استعداد او لیوالتیا په اړه فکر کولو به هغه تر نیمې شپې ویښ ساتلی و.

ښوونکی چې د دغه تنکي ځوان وړتیا ته حیران و، ډیر ژر پوه شو چې دغه هوښیار ماشوم ته د زدکړې لپاره نور څه نلري. نوموړی چې د ادبیاتو او قرآني علومو په اړه په هر څه پوهیده دغه کوچني ماشوم ته یې ورزده کړي وو. نو په همدې اساس ښوونکي د دې کوچني ماشوم پلار ته مشوره ورکړه چې نوموړی یو هندي سبزي پلورونکي ته واستوي ترڅو هغه ته د محاسبې علم ور زده کړي.

دغه ګلالي هلک ډیر ژر ټول هغه څه زده کړل چې هندي سبزي پلورونکی پرې د محاسبې د علم په اړه پوهیده.

وروسته یې پلار خپل کوچنی زوی چې دا مهال شاوخوا دولس کلن و، د اسماعیل زاهد په نوم یو نومیالي اسلامي عالم ته د حنفي فقهې د زدکړې لپاره ولیږه. زاهد هم د دوه پخوانیو ښوونکو په څیر د دغه ماشوم وړتیا ته چې په بې ساري توګه یې زدکړه کوله، ګوته په غاښ پاتې شو، او نوموړي ته یې د زړه له

تل څخه ښــوونه کوله ځکه چې ښــوونکي دا انګیرله چې دغه ماشوم یو لوی مقام ته رسیدونکی دی. دغه کوچني هلک هم د فقهې زده کولو لپاره خورا لیوالتیا وښودله.

د دوه پخوانیو ښــوونکو پـه خیر، د نوموړي علمي ســفر د اسـماعیل زاهد سره هم پای ته ورسـید. هغه هم پدې پوه شـو چې دغه کوچني ماشـوم ته د زدکړې لپاره نور څه نلري. زاهد د کوچني ماشـوم پلار ته لارښـوونه وکړه چې خپل زوی د بیلابیلو زدکړو سره اشنا کړي.

کوچنی ماشــوم چې دا مهال پینځلس کلن شــوی و، پلار یې، ناتلي ته چې نومیالی طبیب او فیلســوف و خپل کور ته بلنه ورکړه ترڅو د هغه کوچنی زوی په عصري زدکړو سمبال کړي.

کوچني ماشــوم د نـاتلي سره یو ځای د منطق په اړه د هغـه وخت تر ټولو مشـهور کتاب چې ایسـاګوج (Isagoge) نومیده، ولوست. د یادونې وړ ده چې دغه کتاب د یوناني متفکر پورفیري (Porphyry) لخوا لیکـل شــوی و. پورفیري یو نوافلاطوني (Neo-Platonic) فیلسوف و او د هغه کتاب ایساګوج د هغه له مرګ څخه لږ تر لږه زر (۱۰۰۰) کاله وروســته هم د منطق په اړه یو معیاري کتاب ګڼل کیده.

اوس دا اړینـه ده چې پوه شــو چې نوافلاطونیســم (Neo-Platonism) څه شي دی، ځکه چې راتلونکي کې به زموږ کوچنی اتل په ختیځ کې د نوافلاطونیسـم په تر ټولو مشـهور فیلسـوف

بدل شي. نوافلاطونيسم، يو فلسفي خوځښت و چې د میلاد څخه وروسته په دریيمه پیړۍ کې د فیلسوف فلوطین لخوا یې بنسټ کیښودل شو. دغه فلسفې د لرغوني یوناني فیلسوف افلاطون نظریات بیا تفسیر او تشریح کړل. دغه فلسفي خوځښت به دا استدلال کاوه چې دغه نړۍ چې موږ ژوند پکې کوو او تجربه کوو یې د واقعي فکر او ایډیال یوه کاپي شوې نسخه ده چې تر دغه مادي نړۍ څخه پورته قرار لري.

وروسته، ناتلي او کوچني هلک د ارسطو مقولې ( Categories of Aristotle) ولوستلې، چې د هغه وخت پېژندل شوي علمي ادبیات وو.

تاسې فکر وکړئ: زموږ کوچنی هلک اوس شپاړس کلن شوی دی، په داسې حال کې چې هغه وار له مخه د نړۍ دوه نومیالیو او مشهورو فیلسوفانو هر یو افلاطون او ارسطو او همدارنګه د هغوی په اړه نوي لیکل شوي فلسفي او علمي اثار او څېړنې لوستې دي.

د ناتلي او هغه کوچني زده کوونکي راتلونکي علمي او فلسفي سفرونه د المجست (Almagest) کتاب چې د بطلیموس (Ptolemy) علمي اثر او عناصر (Elements) چې د اقلیدس (Euclid) علمي اثر و؛ تر پولو ورسیدل. المجست هماغه مهال د ریاضیاتو او نجوم په برخه کې تر ټولو مشهور کتاب و. عناصر هم د ریاضي یو رساله ګڼل کیده چې ۱۳ کتابونه پکې شامل وو.

زمونږ کوچني اتل د علم او پوهې زدکړې ته داسې ليوالتيا درلوده چې هم مهاله د عصري زدکړو په مطالعه په طبي علومو کې هم ورځ تر بلې د مالوماتو په تر لاسه کولو بوخت و.

زمونږ کوچنی اتل لکه د پخوانيو ښوونکو په شان په فکري لحاظ د ناتلي څخه هم وړاندې شو. ناتلي زمونږ کوچني اتل ته لارښوونه وکړه چې تر دې وروسته په خپلواکه توګه خپلې څېړنې پر مخ يوسي.

د زدکړې لپاره د شپې او ورځې په دې سفر کې، زمونږ اتل له طب سره ځانګړې ليوالتيا ومونده، او دا د دې لامل شوه چې په ډېر کم وخت کې د طب په نړۍ کې عملي ګام کيږدي. هغه په ډيرې چټکۍ سره د طب علم او درملنه زده کړه او وتوانيد چې په ۱۷ کلنۍ کې د ساماني امپراتورۍ د واکمن دوهم نوح د ځانګړي طبيب ارزښتناک لقب ترلاسه کړي. زمونږ اتل وکولی شول چې د پادشاهانو په دربار کې د بيلابيلو علومو کتابونو ته لاسرسی پيدا کړي چې له ډلې يې فلسفه، رياضيات او طب وو.

وروسته زمونږ اتل د خوارزم پلازمينې ګرګانج (Gurganj) ته لاړ او هلته يې د خوارزم د واکمن، خوارزمشاه خدمت پيل کړ. دې سفر زمونږ اتل ته په بيلابيلو برخو کې نويو کتابونو ته د لاسرسي زمينه مساعده کړه.

د خوارزم له پرځيدو او د مامونيانو (Ma'munid) له راښکاره کيدو وروسته، زمونږ اتل د ماموني واکمن ابوالحسن علي

ځانګړی طبیب وټاکل شـــو. د مامونیانو په وخت کې ګرګانج په علمي مرکز تبدیل شــو او ډېر غښــتلي شــخصــیتونه یې ځانته جذب کړل چې د هغوی له ډلې ابوســـهل مســـیحي، ریاضي پوه ابونصر منصور، طبیب بن الخمر او ژبپېژندونکی ثعالبي وو.

په ۲۵ کلنۍ کې، ځوان اتل چې وار د مخه یې د پادشـــاهانو د مزمنو نـاروغیو تـداوي کړې وه د ”دربـار لوی طبیـب“ مقـام ترلاسه کړ. د هغه لاسته راوړنې تر هغه څه ډېرې زیاتې وې چې پلار به یې فکر کاوه. په هر ځای کې به د نوموړي نوم ډېر په درنښــت یادیده، واکمنانو به تل د هغه د پوهې او وړتیا ســتاینه کوله.

خو د پادشـــاهانو درملنه کول د هغه لپاره د قناعت وړ نه و. د دې زړور او ځوان اتـل هیلې لـه هغـه څـه ډېرې لوړې وې چې یوازې د پادشاهانو د دربار طبیب پاتې شي. په دې ستر سفر کې د پادشـــاهانو خدمت کول یوازې د یوې زینې حیثیت درلود. د هغه اســاسي موخه دا وه چې د بشـریت په تاریخ کې یې نوم په زرینو کرښو ولیکل شي او تل په ښه نوم یاد شي.

هغه په خپلو شـــته وړتیاو کلک باوري و، او خپل ځان یې د فکري لاسته راوړنو په لوړو څوکو کې لیده. هغه هره ورځ د زړه لـه تلـه دا هیلـه درلوده چې پر نړۍ هـدفمنـد او مثبـت تـاثیر واچوي.

د دې ســـتر لید د ترلاســـه کولو په پار، هغه د علم او پوهې سمندر ته ور ودانګل او طبي متنونه یې د لاتیني، یوناني، هندي، چینایي او ایراني فرهنګونو څخه ترلاســـه کړل، هغه متنونه چې هره پاڼه یې د حکمت یوه دروازه وه چې د خلاصیدو په تمه وه.

هغه هیله درلوده چې په طبي ادبیاتو کې نه هیریدونکی اثر ولیکي، داسې اثر چې د معاصر علم حکمت د لرغوني یوناني، هندي، چینایي او ایراني طبابت له علم سره یو ځای کوي. د همدې ستر لید پر بنسټ، هغه د خپل لومړني مهم کتاب لیکلو سفر پیل کړ، او هیله مند و چې دغه متنونه به په راتلونکي کې د درملنې لارې چارې بدلې کړي او د ښه والي په لور به یې یوسي.

زموږ اتل د ایران او د اوســنۍ مرکزي اســیا منطقو ته له خاطرو ډک ســفرونه ترسره کړل. هغه له عالمانو او پوهانو سره ناستې ترسره کړې او له هغوی څخه یې بیلابیل طبي دودونه او طریقې زده کړې. د هغه هر سفر د هغه په پوهې کې لا ډیروالی راوست او د هغه دا خوبونه یې په حقیقت بدلول چې نوموړی د طب علم په برخه کې نه هیریدونکي خدمتونه ترسره کړي.

په ۱۰۱۴ زیږدیز کال کې، کله چې زموږ اتل ۳۴ کلن و، د نني ایران قزوین او همدان ته ســـفر وکړ. په دې وخت کې نوموړي خپل مشـــهور کتاب چې د " طب قانون " ( The Canon of Medicine) په نوم یادیده، پای ته ورســـاوه او خپل دوهم

کتاب چې "الشــفاء" (The Book of Healing) نومیده، په لیکلو پیل وکړ.

د طب قانون د طب پوهنه ده او پینځه کتابونه لري. دا کتاب د اسلامي نړۍ د هغه وخت طبابت ته کتنه کوي چې د لرغوني یوناني، رومي، ایراني، چینایي او هندي طب له دودونو څخه اغیزمن شوی دی.

د طب قانون نه یوازې د هغه وخت نوښت و بلکې د پیړیو لپاره یې د طبي زدکړو د بنسټ ډبره کیښوده. دې کتاب لرغوني طبي دودونه د اناټومي، درمل جوړونې او د ناروغیو درملنه کې د نویو پنځونو سره وتړل. کله چې په ۱۲ مه پېړۍ کې له عربي څخه لاتیني ژبې ته وژباړل شــو، د هغه اغیز د هغه له اصل او منشا څخه هم پراخ و او د اروپا د منځنیو پیړیو د طب تګلاره او اصول یې وټاکل.

زموږ د اتل دغه ستر اثر، د نسلونو- نسلونو لپاره په طب کې د یوې سرچینې په توګه پاتې شــو او د اســلامي نړۍ او د منځنیو پیړیو اروپا لپاره یې طبي معیارونه وټاکل. دغه کتاب دومره پراخ او له خپل وخت څخه پرمختللی و چې تر اتلســمې پېړۍ پورې په اروپا کې د معیاري طبي درسي کتاب په توګه کارول کیده او په تاریخ کې یې د طبي حکمت نه مړ کیدونکي څراغ په توګه ځان ثابت کړ.

د طب په نړۍ کې زموږ د کوچني اتل اغېز دومره مهم و چې هغه یې د ”لومړني عصري طبابت پلار“ په حیث وپېژاند.

تاسې فکر وکړئ: د بلخ یو ځوان لخوا لیکل شوی کتاب په اروپا کې د طبابت د معیار په توګه پېژندل کیږي او تر ۱۸ مې پېړۍ پورې دوام پیدا کوي چې له همدې امله، زموږ کوچنی اتل د ”لومړني عصری طبابت پلار“ لقب ترلاسه کوي.

د الشفاء کتاب (Book of Healing)، زموږ د اتل دوهم کتاب دی چې علمي او فلسفي مالومات وړاندې کوي. هغه په ۱۰۱۴ زیږدیز کال د دې کتاب لیکل پیل کړل او په ۱۰۲۰ زیږدیز کال کې یې پای ته ورساوه.

د الشفاء کتاب په څلورو برخو ویشل کیږي: منطق، طبیعي زدکړې، ریاضیات او الهیات. دا کتاب د لرغوني یوناني فیلسوفانو لکه ارسطو، بطلیموس او د نورو پرمختللو ایراني/مسلمانو پوهانو او فیلسوفانو لکه الکندي، فارابي او البیروني د نظریو تر اغېز لاندې لیکل شوی دی.

اوس چې زموږ د اتل مور او پلار له فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې وې، هغوی آن په خوب کې هم نه شو لیدلی چې یوه ورځ به یې کوچنی زوی داسې لوړ مقام ته رسیږي چې د ”لومړني عصري طبابت پلار“ لقب ترلاسه کړي. هغوی نه شو کولی داسې وړاندوینه وکړي چې د هغوی زوی به داسې کتابونه ولیکي

چې د طبي علومو د سرو زرو په شـــان معيار به شي او د نړۍ په ختيځ او لويديځ کې به د پيړيو لپاره د درناوي وړ وګڼل شي.

زموږ د دې اتل نوم ابن سينا (Ibn Sina) دی.

ابن سينا په لويديځ کې دومره د درناوي وړ وګرځيد چې په لاتين کې يې د هغه نوم "Avicenna" ياد کړ.

د بلخ له زړه څخه زموږ کوچنی اتل ورو ورو د اســــلام د زرين دور يو له سترو پوهانو څخه شو، چې په طب، فلسفه، نجوم او نورو مختلفو برخو کې د هغه خدمتونو او څيړنو د هغه مقام ته ځانګړی اعتبار وروبخښه.

د طب په برخه کې د لاســـته راوړنو سربيره، هغه د فلســـفې په ډګر کې هم خپل خدمت ته ادامه ورکوله، متافزيک، اخلاق او منطق کې د هغه اثارو اســـلامي نړۍ او د منځنۍ پيړۍ اروپا ته د فکر کولو لاره جوړه کړه.

زموږ کوچني هلک د ارســـطو زدکړې د نوافلاطونيســـم سره يو ځای کړې او د هغه فلسفي آثار د کلاسيکې فلسفې او د منځنۍ پيړۍ فلسفې (scholasticism) ترمنځ په مهم پل بدل شو.



په AI د ابن سینا جوړ شوی انځور

زموږ اتل په بیلابیلو موضـــوعاتو شــاوخوا ۴۵۰ کتابونه لیکلي دي چې تقربیا ۲۴۰ اثار یې لا هم موجود دي. د دوی لـه ډلې شـاوخوا ۱۵۰ اثار د فلسـفې په اړه بحث کوي او ۴۰ پاڼې نور یې د طبابت علم ته ځانګړي کړي دي.

د ابن سینا هوښیارتیا او له زدکړې سره یې ساري مینې، نه یوازې د هغه وخت علمي او فلســفي روښــانتیا رامنځته کړه، بلکې یو

تلپاتې میراث یې هم پریښـــود چې تر نن ورځ پورې خیړونکي له هغه څخه ګټه پورته کوي.

آن د دې عصر لوی ســـاینس پوه، یوهانس کپلر، د ســـیارو د حرکت د لامل په اړه د بحث کولو په وخت کې د ابن ســـینا په نظریې تکیه کوي.

د نړۍ په بیلابیلو ښارونو کې ډیری مؤسسې. زموږ د کوچني اتل د علمي لاســـته راوړنو په یاد او ویاړ نومول شـــوې دي، چې د هغوی له ډلې د ابن ســـینا یادګار او موزیم، د ابو علي ســـینا پوهنتون، د ابن سینا څیړنیزه مؤسسه او د ابن سینا د طب او منځنیو پیړیو علومو اکاډمي شامل دي.

د ابن ســـینا په نوم جایزه په ۲۰۰۳ زیږدیز کال کې رامنځته شـــوه، چې هر دوه کلونو کې یو ځل د یونســـکو له لوري هغه کسانو او اشخاصو ته ورکول کیږي چې په علم کې لاسته راوړنې ولري او نوښتونه رامنځته کړي.

سرچینې:

د ۲۱ مې پیړۍ ریفرینس:

۱. www.google.com

٢. **ChatGPT**

٣. **www.amazon.com**

٤. **www.wikipedia.com**

٥. **www.youtube.com**

٦. **"The Internet Encyclopaedia of Philosophy, Avicenna (Ibn Sina)**

٧. **"Major periods of Muslim education and learning". *Encyclopedia Britannica Online***

**کتابونە:**

١. **Adamson, Peter (٢٠١٦). *Philosophy in the Islamic World: A history of philosophy without any gaps, Volume 3*. Oxford University Press.**

٢. **Henry Corbin, *History of Islamic Philosophy*, Routledge, ٢٠١٤**

٣. **Avicenna, *Kitab al-shifa', Metaphysics II*, (eds.) G.C. Anawati, Ibrahim Madkour, Sa'id Zayed (Cairo, ١٩٧٥)**

٤. **O'Connor, John J.; Robertson, Edmund F., "Avicenna", *MacTutor History of Mathematics Archive*, University of St Andrews**

٥. **Byrne, Joseph Patrick (٢٠١٢), "Avicenna", *Encyclopedia of the Black Death,* Vol. I, Santa Barbara, CA**

٦. **Gutas, Dimitri (١٩٨٧). "Avicenna ii. Biography". In Yarshater, Ehsan (ed.). *Encyclopædia Iranica,***

# یو عجیب ښار، یو عجیب علمي مرکز او یوه الهام بخښونکې امپراتوري

لـه شـک پرتـه چې ابـن سـینا یـو بې سـاری نابغـه و. خـو لـه دې سره سره د نومـوړي د هڅــو او لاســته راوړنــو پــه اړه د لا ډیــر پوهــاوي لپــاره بایــد هغــه کتابونــه هــم پــه پــام کې ونیــول شي چې نومــوړي لوســتي دي، همدارنګــه هغــه پوهــه چې لاســته یې راوړې او هغــه ســاینس پوهــان او فیلســوفان چې پـر نومـوړي یې ژور اغـیز درلـود هـم بایـد پـه پـام کې ونیـول شي. کـه چـیرې دا اړخونـه پـه پـام کې ونـه نیـول شي نـو د اسـلام زریـن دور د اهمیـت او د بشریـت پـر تـاریخ د هغــه د ژور اغــیز پــه اړه پوهیــدل بــه ســتونزمن وي.

د دې موضـوع پـه تـړاو بـه لـه اتـمې څخـه تـر دیارلسـمې پـېړۍ پـورې د نـړۍ لـه تـر ټولـو سـتر او پـرمختللي ښـار، د هغـه مهـال د نـړۍ تـر ټولـو لـوی کتـابتون او تعلیمي مرکـز پـه اړه پــه لنــډه توګــه مالومــات وړانــدې کــړم او همدارنګــه د هغـه اسـلامي امپراتـورۍ یادونـه بـه هـم وکـړم چې د دې ټولـو بنسټ یې ایښی و.

یـو داسې ښـار تصـور کـړئ چې ۱۲۰۰ کالـه پخـوا د پرمختـګ او ودې پــه حــال کې و داسې یــو بې ســاری پرمختــګ چې دا

ښار يې د نړۍ تر ټولو ستر ښار ګرځولی و. د دې ښار له ګڼه ګوڼې څخه ډکو کوڅو د خلکو د بيروبار ښکارندويي کوله هلته چې وګړي له بيلابيلو قومونو او ځايونو څخه يو بل سره مخامخ کيدل. سوداګرو به له ليرې پرتو سيمو څخه دې ښار ته سفر کاوه او له ځان سره به يې بيلابيل توکي راوړل چې د بازارونو د ښکلا لامل به کيدل. دا ښکلی ښار د بيلابيلو کلتورونو د نښلونې مرکز ګرځيدلی و چې هر يو يې د ښاري ژوند په بډايه کولو کې خپله ارزښتناکه ونډه لرله.

دا پراخه سړکونه به د ښار په منځ کې يو له بل سره نښليدل چې د خلکو او توکو د تګ راتګ لپاره به يې اساني رامنځته کوله، د دې عمومي سړکونو په اوږدو کې به د تيلو څراغونو ګرمه او رپيدونکې رڼا خپروله ترڅو د لارويانو لپاره لاره روښانه اوسي. د خوړو خوندور بوی به د ښار په فضا کې خپور و په داسې حال کې چې رستورانتونه به له ميلمنو څخه ډک وو هغه ميلمانه چې له شانداره ميلمستياو، لوړو خنداګانو او حيرانوونکو خبرو څخه به يې خوند اخيست، چې د خوشالۍ دې فضا به تر نيمو شپو دوام درلود.

تر ټولو مهمه دا وه چې دې ستر ښار د روښانفکرانو او نوښتګرو بيلابيلې ډلې ځان ته راجذب کړې وې. پوهان له خپل پلټونکي فکر سره، فيلسوفان چې د هستۍ په

رازونـو يې غـور کـاوه، مـاهر ژبـاړونکي چې د کلتورونـو تـرمنځ يې د پلونـو حيثيـت درلـود، فـداکاره ډاکـټران چې د ناروغـانو پـه درملنـه کې بـه يې نـه سـتړې کيـدونکې هـلې ځـلې کـولې او هغـه تکـړه هنرمنـدان چې خپـل ليـدلوري بـه يې پـه خپلـو اثـارو کې ځرګنـدول، دوی ټولـو د نوښـت دې مرکـز تـه مخـه کـړې وه. هغـوی يـو لـه بـل سره خـپلې نظـرېې شريکې کـړې او يـو داسې پـر انـرژۍ ټولنـه يې رامنځتـه کـړه چې بې دريغـه يې د پـوهې او نوښــت پولــو تــه پراختيــا ورکولــه. دې ګـټــور تعامـل د هغـو پرمختګونـو لپـاره لاره هـواره کـړه چې د پيړيـو پيړيـو لپـاره وسـتايل شـول او دا ښـار يې د نـړۍ د پـوهې او کلتور په تر ټولو مخکښ مرکز بدل کړ.

دا بې سـارې ښـار بغـداد نوميـده چې د اسـلامي امپراتـورۍ شـانداره پلازمينـه وه، چې پـه ۷۶۲ زيږديـز کـال کې يې د عبـاسي خلافـت لخـوا بنسـټ کيښـودل شـو، او پـه ډيـرې چـټکۍ سره د پـوهې او هـنر پـه داسې مرکـز بـدل شـو چې فکري او کلتوري خوځښت پکې ځپې وهلې.

د عبـاسي امپراتـورۍ پـه هڅونـه او اقتصـادي ملاتـړ سره علـمي متنونـه لـه يونـاني او لاتيـني ژبـو څخـه فـارسي او عـربي تـه وژبـاړل شـول. دې هڅـو پـه اسـلامي نـړۍ کې او لـه هـغې د بانـدې د دې ارزښـتناکو فکـري ميراثونـو د سـاتنې او خپرولـو لپاره لاره هواره کړه.

د دې فکــري انقــلاب پــه زړه کې "بيت‌الحکمــه" شــتون درلــود، هغــه ســتر کتــابتون چې پــه اتمــه زېږديــزه پېړۍ کې د نــامتو عبــاسي خليفــه هــارون الرشــيد لخــوا يې د بنســټ ډبــره کيښــودل شــوه او د نومــوړي د زوی خليفــه المــأمون د واکمنۍ پر مهال د ځليدا اوج ته ورسيد.

بيــت الحکمــه د څېړنــو او تفکــر لپــاره يــو مهــم مرکــز ګڼــل کيــده چې اســاسي موخــه يې د علــمي متنونــو ســاتنه، ژبــاړه او د پــوهې کــچې لــوړول وو. پــه دې ځــای کې د نــړۍ لــه ګــوټ ګــوټ څخــه د خــطي نســخو يــوه ســتره مجموعــه راټولــه شــوې وه. پــه هغــه ځــای کې د بيلابيلــو ژبــو پــه ځــانګړې توګــه د يونــاني او لاتيــني څخــه عــربي تــه ژبــاړه کيدلــه او پــه همدې توګه د علمي افکارو خپريدل او دوام تضمينيده.

کــه چــيرې غــوارۍ چې د عبــاسي خلافــت، بغــداد ښــار او بيــت الحکمــه د اهميــت پــه اړه لا ډيــر پــوه شۍ نــو لانــدې ټکي ته پام وکړۍ:

د فلســفې علــم شــاوخوا ۲۶۰۰ کالــه پخــوا پــه يونــان کې رامنځتــه شــو او تقريبــا ۲۳۰۰ کالــه پخــوا د لرغــوني يونــان يــو ســتر فيلســوف چې ارســطو نوميــده، د منطــق او ليــدنې پــر بنســټ د څــيړنې لارې چــارې وړانــدې کــړې او د عصــري علم (Science) بنسټ يې کيښود.

خو شاوخوا ۱۵۰۰ کاله مخکې، کله چې په لویدیځ کې د مسیحیت دین د یو سیاسي ځواک په توګه راڅرګند شو نو د اروپا علم او فلسفه یې د تیارو پیړیو ته یووړه. په دې تاریخي دوره کې کتابونه وسوځول شول، کتابتونونه ویجاړ شول او ډېری فیلسوفان او پوهان تر ځار لاندې ونیول شول او وځورول شول، چې په پایله کې لویدیځه اروپا چې د فلسفې او پوهې زانګو یادیده په زر کلن خوب ویده شوه.

خو برعکس په بغداد کې د عباسي خلافت تر واکمنۍ لاندې او د بیت الحکمه په محور کې، مسلمانو مفکرانو ستر رول ولوباوه، هغوی نه یوازې د لرغوني یونان د علمي او فلسفي دودونو په بیا راژوندي کولو کې، بلکې د هغوی په پرمختګ او پراختیا کې هم نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړې.

کله چې اروپا په ښوارلسمه زیږدیزه پېړۍ کې له دې زر کلن خوب څخه راویښه شوه، نو دا د مسلمانو پوهانو برکت و چې د علم ډیوه یې بله ساتلې وه او لا یې پراختیا ورکړې وه، چې دا چاره بیا د اروپا د رنسانس، روښانتیا دورې او علمي انقلاب لپاره الهام بخښونکې شوه.

يقينــا د دې تــاريخي شرايطــو يادونــه بــه د هغــو يوولســو مســلمانو متفكرانــو د لا ښــه پېژنــدلو لپــاره لاره هــواره کــړي چې په دې کتاب کې پرې بحث شوی دی.

دا يــوولس مفکــران لــه ګڼــو نــورو مفکرانــو سره يــو ځــای د اســلام زريــن دور پــه جريــان کې راڅرګنــد شــول. هغــه بې ســاری دور چې پينځــه پــېړۍ يې دوام وکــړ. دا تــاريخي دور پــه دوديــز ډول لــه اتــمې څخــه تــر ديارلســمې زيږديــزې پــېړۍ پــورې ګڼــل کــيږي، دا دوره پــه اســلامي نــړۍ کې د پــام وړ علــمي، اقتصــادي او کلتــوري پرمختګونــو لــه املــه پيژنــدل کيږي.

د اســلام زريــن دور يــو هــر اړخيــز فکــري خوځښــت و چې ټولــه اســلامي نــړۍ يې رانغــاړلې وه. د دې خوځښــت دايــره لــه افغانســتان او منځــنۍ اســيا څخــه تــر اندلســه (نــنۍ هسپانيه او پرتګال) پورې رسيده.

ابــن ســينا د دې دورې يــو لــه ځليــدونکو ســتورو څخــه ګڼــل کــيږي خــو دا بې ســاری دور د نوښــتونو، مونــدنو او اخــتراع ګــانو سربــيره د داسې نــامتو شخصــيتونو څخــه ډک و چې هر يو پکې رغنده رول لوبولی دی.

نــو لــه مــوږ سره يــو ځــای شئ ترڅــو د اســلامي امپراتــورۍ لــه بيلابيلــو نقطــو څخــه د دې اغيزنــاکو شخصــيتونو حيرانــوونکې کيسې- وڅيړو. هغــه کيسې- چې لــه اتــمې څخــه

بیا تر دیارلسمې زېږدیزې پېړۍ پورې ټول نوښتونه او اختراع ګانې په خپله لمن کې رانغاړي.

هر څومره چې دا کیسې په کره توګه ولولئ، هغومره به تاسې ته جوته شي چې اسلام د دې دورې په اوږدو کې تر پېنځه پېړیو زیات د علم، فلسفې، طبابت، هنرونو او معمارۍ په ټولو پرمختګونو کې مخکښ و. له همدې امله مونږ باید له هغه تو پیر څخه خبر شو چې ۱۲ پېړۍ پخوا پکې روان وو او هغه وضعیت چې نن پکې ولاړ یو.

# د نړۍ په مشهوره نقاشۍ کې انځور شوی سړی

رافایل، مایکل انجیلو او لیوناردو داوینچي شاید د تاریخ درې لوی انځورګران او مجسمه جوړوونکي واوسي. زه ډاډمن یم چې تاسې اکثریت به له دې مشهورو نومونو سره بلد یاست. په وروستیو زر کلونو کې د انسانانو په پرمختګ کې د دې درې تنو اغیز د هنر تر دنیا ډیر ژور دی.

د رافایل په اړه یوه کیسه شتون لري چې په لویدیځ کې د هغه مفکرینو، فیلسوفانو، پوهانو او مخترعانو په اړه د خورا زیات درناوي انځور وړاندې کوي چې، د لویدیځې نړۍ د برخلیک په بدلون او سوکاله ټولنې په رامنځته کولو کې یې لوی او بې ساری نقش لوبولی.

د رافایل دا کیسه دا هم په ډاګه کوي چې موږ او تاسې نن ورځ هغه مفکرینو، فیلسوفانو، پوهانو او مخترعانو ته څومره درناوی لرو چې له برکته یې د نن ورځې په هوسا او پرمختللې نړۍ کې ژوند کوو.

رافایل د ۱۵۰۸ او ۱۵۱۱ کلونو ترمنځ (شاوخوا ۵۰۰ کاله وړاندې) په واتیکان کې د روم کاتولیک کلیسا د مرکزي دفتر په تر ټولو ارزښتمنې او مهمې خونې، **Stanza de Segnatura**، کې د یوې انځورګرۍ (تابلو جوړولو) لپاره ګومارل شوی و. دا

انځورګري (تابلو) ۳۸.۵ متره مربع مســـاحت لري؛ دا هنري اثر ۷.۷ متره اوږدوالی او ۵ متره پلنوالی لري.

د رافایل د دې هنري اثر لپاره یوه دوه پوړیزه (دوه منزله) ودانۍ تصــور کړئ چې له ۵.۵ تر۶ متره لوړوالی ولري. اوس نو د هغې تابلو په اړه تصـور وکړئ چې له یوې دوه پوړيزې ودانۍ څخه يې لوړوالی زیات دی.

دا تابلو په درې کلونو کې بشپړه شوه.

دا هنري اثر چې «د آتن ښوونځی / The School of Athens» نومیږي، د رافایل شاهکار بلل کیږي.

د آتن ښـــوونځي په تابلو کې د ســـقراط، افلاطون، ارســـطو، ارشمیدس، او هېراکلیتوس په ګډون د یونان د تاریخ ټول ستر فیلســـوفان انځور شـــوي دي. نوموړو فیلســـوفانو د ۲۳۰۰ او ۲۸۰۰ کلونو په منځ کې ژوند کاوه، خو په فلسفې او د علومو په نړۍ د هغوی د افکارو د اغیز له کبله یې لا هم نومونه ژوندي دي.

خو د آتن ښـــوونځي په نقاشي کې د یو غیر یوناني شـــخصـــیت انځور هم رسـامي شـوی دی. دا شـخص یو مسـلمان مفکر دی چې «ابن رشد» نومیږي.

په لوېدیځه نړۍ کې د ابن رشـــد د مقام په اړه تصـــور وکړئ؛ د نوموړي انځور د نړۍ په تـاریـخ کې د غوره نقـاش لـه لوري، د

نړۍ په کچه د مسیحي دین خورا ارزښتمنه او مهمه خونه کې، د نړۍ د لویو فیلسوفانو په ډله کې، د یو هنري شاهکار په څیر ساتل شوی دی!

هغه پوښتنې چې ذهن ته مو راځي دا دي: ابن رشد څوک دی؟ نن ورځ په اسلامي نړۍ کې د ابن رشد مقام په کوم ځای کې دی؟ زموږ له ډلې حتی څو تنو یې نوم اوریدلی دی؟ او لویدیځه نړۍ ولې ابن رشد ته تر دې کچې احترام لري؟

لویدیځوال ولې ابن رشد ته دومره ډیر درناوی لري چې د رافایل د آتن ښوونځي په انځورګري (تابلو) کې رسامي شوی دی؟

په حقیقت کې ابن رشد هغه مسلمان مفکر دی چې د اروپا رنسانس ته یې لاره هواره کړه؛ هغه پدیده چې له څوارلسمې څخه تر اوولسمې میلادي پیړۍ پورې یې دوام وکړ او له تیارې او جهالت څخه د رڼا په لور یې اروپا ته حرکت ورکړ، او ترڅنګ یې د علم، هنر او فرهنګ نړۍ تغیر کړه.

هو، دا په عربي ژبه کې د ارسطو په اړه د ابن رشد د لیکنو له کبله و، چې په دیارلسمه میلادي پیړۍ کې غربیانو له عربي څخه لاتیني ژبې ته وژباړه او په لویدیځ کې د ارسطو د افکارو د بیا ژوندي کیدو سبب شو.



**په AI د ابن رشد جوړ شوی انځور**

د ابن رشـــد ژباړې د تاریخ په منځنیو پیړیو کې د بدلون لپاره دومره ارزښـــتمني تمامې شـــوې چې غربي مســـیحي نړۍ ته یې د ارسطو افکار بیا راژوندي کړل او نوموړی یې ور وپېژانده.

په بل عبارت دا د ابن رشـــد له برکته وو چې لویدیځ یو ځل بیا خپل ځان پیدا کړ او وتوانید چې له خپل ماضي سره چې له زر کلونو راهیسې- یې له لاســه ورکړی و، بیا اړیکه پیدا کړي. هغه

ماضي چې د ۲۳۰۰ څخه تر ۲۸۰۰ کاله پخوا يې علمي او فلسفي فکر ته ارزښت ورکاوه.

ابن رشد، د لويديځ د حال او ماضي ترمنځ د پُل حيثيت درلود.

هو، دا ابن رشـــد او اســـلامي زرين دور  و چې غربي مغز ته يې د مسـيحيت له وچ عقيدوي او زر کلن تياره دور څخه خلاصـون ورکړ.

زموږ د اسلامي زرين دور لومړی اتل، ابن سينا د بلخ له خاورې څخه راڅرګند شـــو او د هغه مهال اســـلامي نړۍ د قلمرو په اساس د اسلامي نظام واکمني د ليرې ختيځ اوسيدونکو په نوم ګڼل کيده.

زموږ دوهم اتل، ابن رشـــد چې د ابن ســـينا له مړينې څخه ۸۹ کاله وروســـته زيږيدلی او د اســـلامي نظام واکمني د لويديځ اوسيدونکو څخه و. هغه د اوسنۍ هسـپانيې په قرطبه سـيمه کې نړۍ ته سترګې غړولې دي. په هغه وخت کې دا سيمه اندلس نوميده چې د اوسني جبل الطارق، پرتګال، هسپانيې او د فرانسې سويل څينې برخو ته اشاره کوي.

اندلس د المرابطين ســـلطنت مســـلمانانو لخوا اداره کيده چې مرکز يې د اوسني مراکش په خاوره کې شتون درلود.

ابن رشـــد د ۱۱۲۶ زيږديز کال د اپريل په ۱۴مه نيټه د اوســـنۍ هســـپانيې د قرطبه په ښـــار کې نړۍ ته ســـترګې غړولې دي. د

نوموړي کورنۍ د عامه خدماتو په ځانګړي ډول د حقوقي او مذهبي چارو په ترسره کولو سره پېژندل کیده. د نوموړي نیکه ابوالولید محمد د قرطبه قاضي القضات او د دې ښار د لوی جومات ملا امام و.

د پخوانیو کیسه لیکونکو په وینا، د ابن رشد زدکړې چې د حدیث، فقه، طبابت او د کلام په مطالعه کولو سره پیل شوې تر لوړې کچې ورسیدې. مالکي فقه یې د حافظ ابو محمد بن رزق څخه او حدیث یې د خپل نیکه له شاګرد، ابن بشکوال څخه زده کړل. پلار یې هغه ته د امام مالک کتاب الموطای په ګډون فقهي اثار ورزده کړل چې ابن رشد هغه حفظ کړل.

زموږ اتل د ابو جعفر جریم التجیل څخه د طب په برخه کې زدکړې ترلاسه کړې او داسې اټکل کیږي چې فلسفه یې هم له هغه څخه زده کړې وي. هغه د فیلسوف ابن باجه د اثارو سره هم اشنایي درلوده او کیدی شي چې له هغه سره یې شخصي پیژندګلوي درلودلې وي او یا یې له هغه څخه زدکړه کړې وي. زموږ اتل د اوسنۍ هسپانیې په سویل کې د فیلسوفانو، طبیبانو او شاعرانو د دایمي ټولنې سره یو ځای شو، چې د یو شمیر فیلسوفانو لکه هر یو ابن طفیل، ابن زهر او د راتلونکي خلیفه ابو یوسف یعقوب په ګډون به ترسره کیده. همدارنګه هغه د شعري کلام مکتب کې هم زدکړې ترسره کړې چې د ژوند په وروستیو کلونو کې یې په هغه نیوکې کولې.

زموږ اتل، ابن رشـــد یو تکړه لیکوال و او د هغه اثار د ختیځ د هر یو فیلسوف د اثارو په پرتله بیلابیل موضوعات په ځان کې رانغښــتل چې له ډلې یې فلســفه، طب، فقه یا حقوقي نظریه او ژبپیژندنه دي. د هغه ډیری لیکنې د نړۍ لوی فیلسوف ارسطو د اثارو تفسیر و.

د فرانسـوي لیکوال ارنسـت رنان په وینا ابن رشـد د ارسـطو او افلاطون د ډیری اثارو د تفســـیر سریېره، لږ تر لږه ۶۷ خپل اثار هم لیکلي دي چې له ډلې یې ۲۸ اثار د فلســـفې په برخه کې، ۲۰ اثار د طب، ۸ اثار د حقوقو، ۵ اثار د الهیات په موضوع کې او ۴ اثار د ژبې د ګرامر په برخه کې لیکلي دي.

په عربي ژبه د ابن رشـــد ډیری اثار له منځه تللي دي خو هغه اثار چې لاتیني یا عبري ژبې ته ژباړل شــوي لا تر اوســـه هم پاتې دي.

ابن رشـد تقریبا د ارسـطو په ټولو اثارو تبصرې لیکلي دي خو د دوی له منځه یوازې د "سیاست" کتاب و چې د هغه په اړه یې تبصـره نـده لیکلې ځکه چې نوموړي کتاب تـه یې لاسرسی نـه درلود، نو لـه همـدې املـه یې د افلاطون د جمهوریت پـه اړه تبصرې لیکلې.

ابن رشد د ارسطو تبصرې په درېو برخو وویشلې چې نن ورځ یې څیړونکي لنډې، منځنۍ او اوږدې تبصرې بولي.

د ابن رشد ډیری لنډې تبصرې د هغه علمي فعالیتونو په پیل کې لیکل شوي دي او د ارسطو تعلیمات په لنډ ډول بیانوي.

منځنۍ تبصرې چې د بیلابیلو توضیحاتو او تعبیرونو لرونکې دي چې د ارسطو اثارو اصلي متن د لوستونکو لپاره ساده او اسانه کوي.

په اوږدو تبصرو کې هم د ارسطو د اصلي اثارو بشپړ متن هره کرښه په دقیق ډول تحلیل او څیړل شوې ده. اوږدې تبصرې خورا مفصلې او اصلي فکر په لوړه کچه بیانوي، ان تر دې چې د عامو لوستونکو لپاره د پوهیدو وړ نه دي.

ابن رشد د اسلامي فلسفې او کلام په اړه ډیر اثار لیکلي دي چې یو له هغوی څخه یې تهافت التهافت دی. د هغه دغه فلسفي شاهکار اصلا په فیلسوفانو باندې د غزالي لخوا تاریخي نیوکې رد ګڼل کیږي. دا کتاب د ابن رشد په تبصرو کې موجودې نظرې د هغه د خپلواکه اثارو سره یو ځای کوي او د غزالي ادعاو ته د ځواب ویلو لپاره یې کاروي. همدارنګه دا اثار په ابن سینا او د هغه په نوافلاطوني تمایلاتو هم نیوکه کوي او ځینې وختونه د ابن سینا د نظرونو په اړه د غزالي د نیوکو سره همغږي وي.

ابن رشد د الموحدون سلطنتي لړۍ په دربار کې د طبیب په توګه دنده ترسره کړې او یو شمیر طبي رسالې یې هم لیکلې دي چې مشهوره یې الکلیات في الطب وه.

ابن رشــد څو ځله د قضــاوت دنده ترسره کړې او همدارنګه د فقهې یا اســلامي حقوقي نظریې په اړه یې بیلابیل اثار لیکلي دي. چې لـه ډلې یې یوازینی اثر چې تر نن ورځ پورې پـاتې دی هغـه بدیات المجتهد وحیاة المقتصد کتاب دی.

د ابن رشد هغه ارزښتمن خدمتونه چې د دیني علومو، فلسفه، طب، ارواپوهنه، فزیک او نجوم په برخه کې یې ترسره کړي دي په دې مقاله کې یې سره را ټولول ګران کار دی.

باید وویل شي په داسې حال کې چې موږ د اســـلامي نړۍ د دغه ســـتر اتل په اړه ډیر نـه پوهیږو خو لویدیځ یې لـه پخوا څخه درناوی او ستاینه کوي.

تر ټولو لوی درناوی چې لویدیځ ابن رشد او د هغه علمي میراث ته وکړ دا دی، چې د نوموړي نوم یې په لاتیني ژبه کې «آوروس Averroes /» کیښود.

لویدیځ ابن رشــــد تـه پـه درنـاوي کې تر دې هم وړانـدې ولاړ. لویـدیځوالو نوموړی د عقلپـالنې پلار / The Father of Rationalism ونوماوه. عقلپالنه هغه فلســـفه او میتود دی چې ټول عصـري علوم ورباندې تکیه کوي.ابن رشــد په لویدیځ کې دومره بـانفوذه او اغیز لرونکی و چې د طـب پـه برخـه کې د نوموړي کتابونه په ۱۲۵۵ میلادي کال کې له عربي څخه لاتیني ژبې ته وژباړل شــول او بیا بیا چاپ شـــول. د ابن رشــد طبي

کتابونه په منځنیو پیړیو کې تر نورو ټولو طبي کتابونو مخکښ او د هغو ځایناستي شول.

فقط په دې اړه فکر وکړئ؛ چې د طب په برخه کې د ابن رشد کتابونه تر هغه ټولو کتابونو مخکښ او د هغوی ځایناستي شول چې سلګونه کلونه یې په اروپا کې شتون درلود!

د ابن رشد هوښیارتیا او نبوغ مې نن ورځ په سترګو کې اوښکې راولي. او تر دې هم دردناک دا چې اسلامي نړۍ په خپله ۵۰۰ کلنه زرینه دوره کې لسګونه د ابن رشد په څیر عالمان لرل.

ابن رشد ته د لویدیځ درناوی اوس هم په هماغه کچه دی څومره چې په دیارلسمه میلادي پیړۍ کې و. د هسپانیې هیواد، کوردبا (قرطبه) ښار په بارسلونا پوهنتون کې د ابن رشد مجسمه، نوموړي ته د لویدیځ د بې پایه درناوي یوه نمونه ده.

سرچینې:

د ۲۱ مې پیړۍ ریفرینس:


١. www.google.com

٢. www.amazon.com

٣. [www.wikipedia.com](www.wikipedia.com)

٤. ChatGPT

٥. [www.youtube.com](www.youtube.com)

٦. "The Internet Encyclopaedia of Philosophy

٧. "Major periods of Muslim education and learning". *Encyclopedia Britannica Online*

كتابونه:

١. Fakhry, Majid (٢٠٠١), *Averroes (Ibn Rushd) His Life, Works and Influence*

٢. Stone, Caroline (May–June ٢٠٠٣). "Doctor, Philosopher, Renaissance Man"

٣. Selwood, Dominic (١٠ December ٢٠١٧). "On this day in ١١٩٨: the Islamic philosopher Averroës dies in Marrakech"

# د الجبر پلار

فکر وکړئ که چېرې زموږ دریيم اتل نه وی، نو نن ورځ به ډېری کـاریـدونکي پروګرامونـه (App) لکـه Facebook، Google، TikTok، ChatGPT او دې تـه ورتـه پـه میلیونونـه نورو پروګرامونو هم شتون نه درلود. دا او ټول کمپیوټري پروګرامونه د هغه ریاضـــیاتي مفهوم په اســـاس رامنځته شـــوي دي چې الګوریتم (algorithm) نومیږي او دا ټول زموږ د دریيم اتل د کتاب له امله وو چې عصـــري الجبر یې رامنځته کړ چې د ټولو الګوریتمونو اساس او بنسټ و.

زموږ دریيم اتل "خوارزمي" نومیږي.

زموږ دریيم اتل محمد بن موسی خوارزمي د اسـلام د زرین دور یو علامه او ریاضي پوه و چې په بیلابیلو برخو کې یې ډېر اغیزناک اثار لیکلي چې د هغوی له ډلې ریاضي، نجوم او جغرافیه دي.

موږ کولی شـو چې د خوارزمي لاسـته راوړنې په لاندې ډول بیان کړو: د نویو عددونو سیسـتم رامنځته کول، په سـتور پوهنې او جغرافیه کې دقیق اثار لیکل، الجبر ته پراختیا ورکول او د صــفر عدد رامنځته کول.

د نوموړي کتاب الکتاب المختار في حصـــاب الجبر والمقابله The Compendious Book on Calculation by )

(Completion and Balancing)، د معادلاتو د حل لپاره يې سيستماتيک حل لارې را وپېژندلې او د عصري الجبر اساسات يې ترتيب او وړاندې کړل.

د خوارزمي دغه يې ساري هڅو او نوښتونو هغه ته د "الجبر پلار" لقب ور په برخه کړ.

دا خورا اړينه ده چې پوه شو چې د خوارزمي نوی فکر څومره ژور او برخليک ټاکونکی و. د نوموړي دغه فکر يو انقلابي حرکت رامنځته کړ چې د رياضياتو يوناني مفهوم يې چې هندسه ګڼل کيده، بدل کړ.



په AI د خوارزمي جوړ شوی انځور

د ۸۲۰ زیږدیز کال په شــــاوخوا کې زموږ اتل د بیت الحکمه کتابتون مشر او ستورپوه وټاکل شو.

زموږ اتل خپل پیژندل شــوی اثر الکتاب المختار فی حصــــاب الجبر والمقابله د ۸۱۳ او ۸۳۳ زیږدیز کلونو ترمنځ لیکلی دی. دې کتاب په لومړي ځل د خطي او دوهمه درجه معادلاتو لپاره سـیسـتماتیک حل لاره وړاندې کړه. په الجبر کې د هغه د لاســـته راوړنو څخه یوه یې د مربع په بشـــپړولو سره دوهمې درجې معادلاتو د حل څرنګوالي ثبوت و چې د هغه لپاره یې هندسي دلیلونه وړاندې کړل.

د الجبر عربي اصــطلاح زموږ د اتل د کتاب له عنوان څخه اخیستل شوې ده. د الخوارزمي نوم د بیلابیلو اصطلاحاتو پیدا کیدو لامل شــوی دی لکه د انګلیسيـ اصـطلاح الګوریســم یا الګوریتم، همدارنګه ایټالوي اصـطلاح الګوریتمو (algoritmo)، هسپانوي اصطلاح ګوریسمو (guarismo) او پرتګالي اصطلاح الګریسمو (algarismo) چې ټول د "عدد" په مانا دي.

په ۱۲مه میلادي پیړۍ کې لاتیني ژبې ته د خوارزمي درسي کتاب ژباړل چې د هندي محاســبې په اړه و بیلابیل هندي عددونه یې یو ځای کړل چې لویدیځې نړۍ ته یې د اعشــاریه په بنســټ موقعیتي عددونو سـیسـتم ور وپیژانده. سربیره پر دې، الجبر د

انګلیسي‌ــ خیړونکي رابرت چســتر لخوا په ۱۱۴۵ زیږدیز کال کې لاتیني ژبې ته وژباړل شو چې تر ۱۶مې میلادي پیړۍ پورې د اروپا په پوهنتونونو کې د ریاضي اساسي درسي کتاب په توګه لوستل کیده.

زمونږ اتل په خوارزم کې نړۍ ته سترګې وغړولې. خوارزم په هغه وخت کې د لوی ایران یوه برخه وه خو اوس د ترکمنســـتان او ازبکستان اړوند سیمه ده.

خوارزمي خپـل ډیری اثـار د ۸۱۳ او ۸۳۳ زیږدیز کلونو ترمنځ لیکلي دي. نوموړي په بیت الحکمه کې ســـاینس او ریاضـــیات ولوستل چې ورسره یې یوناني علمي خطي نسخې او سانسکریټ نسخې هم وژباړلې.

زموږ اتل د ریاضـیاتو ترڅنګ د جغرافیې علم، سـتور پیژندنې او نقشې‌ــ اچولو په برخه کې هم نه هیریدونکي خدمتونه وړاندې کړل او همـدارنګـه یې پـه الجبر او مثلثاتو کې هم بې ســـاري نوښتونه رامنځته کړل.

د نوموړي (په هندي عددونو محاسبې) کتاب چې د ۸۲۰ زیږدیز کال په شـــاوخوا کې لیکل شـــوی، په منځني ختیځ او اروپا کې د هندي- عربي عددونو د سیستم په لاره اچول او پراختیا ورکول یې اصلي هدف و.

الجبر د یووالي رامنځته کولو یوه نظریه وه چې ناطق عددونه، غیر نـاطق عـددونـه، هندسي مقدارونو او داسې نورو تـه یې دا

امکان ورکاوه چې هغوی ټول د "الجبري مفاهیمو" په توګه ومنل شي. دغې چارې د ریاضـــیاتو پرمختګ ته یوه نوې لار پرانیســـته چې د مفهوم له نظره تر هغه څه ډیره پراخه وه چې مخکې یې شـــتون درلود او د راتلونکو پرمختګونو لپاره یې هم زمینه مســـاعده کړه. د الجبري نظریو د پیژندنې یو بل مهم اړخ دا و چې ریاضـــیاتو ته یې دا زمینه برابروله چې په هغو طریقو او لارو چارو کې وکاریږي چې مخکې نه وې تجربه شوې.

سرچینې:

د ۲۱ مې پېړۍ ریفرینس:


١. www.wikipedia.com

٢. ChatGPT

٣. "The Internet Encyclopaedia of Philosophy

٤. "Major periods of Muslim education and learning". *Encyclopedia Britannica Online*

## كتابونه:


١. Maher, P. (١٩٩٨), "From Al-Jabr to Algebra", *Mathematics in School*

٢. Boyer, Carl B., ١٩٨٥. *A History of Mathematics*, p. ٢٥٢. Princeton University Press.

٣. Knuth, Donald (١٩٧٩). *Algorithms in Modern Mathematics and Computer Science*

# تبصره

هغه حالت په نظر کې ونيسئ ــ کله چې يو تمدن خپله خورا ارزښتناکه شتمني له لاسه ورکوي او دغه شتمني يې عبارت دی له بيلابيلو علومو څخه لکه رياضيات، ستور پوهنه، طب او فلسفه. د لويديځې رومي امپراتورۍ ړنګيدل او په لويديځ کې د مسيحيت راڅرګنديدل د دې لامل شو چې دغه تمدن جوړوونکي علوم له منځه ولاړ شي چې په پايله کې يې لويديځه نړۍ په ۱۰۰۰ کلن خوب ويده شوه.

خو بالاخره د اسلامي پوهانو د نوښتونو او پنځونو په برکت لويديځ له دې ۱۰۰۰ کلن ژور خوب څخه راويښ يږي. دغه نوښتونه او پنځونې د اسلام د زرين دور په نوم ياديږي. د اسلام زرين دور له اتمې پېړۍ څخه تر ديارلسمې پېړۍ پورې دوام درلود.

د موضوع منطقي دلالت دا دی چې د اسلامي پوهانو د رول او د اسلام زرين دور د نفوذ پرته به نن ورځ د لويديځ د روښنايي غورځنګ، علمي انقلاب او صنعتي انقلاب په څير واقعيتونو هم شتون نه درلود.

پورتنيو تاريخي پيښو ته په غور سره فکر وکړئ!

په ورته وخت کې په دې اړه هم فکر وکړئ چې لویدیځ نن د تاریخ په کوم ځای کې دی او موږ چیرته یو!

د اسلام زرین دور په اړه لومړی باید په دې پوه شو چې هیڅ پیښه د تاریخ په خلا کې نه رامنځته کیږي یا په بل عبارت هیڅ لویه پیښه په خپله نه پیښیږي. علمي پیښې د نوښتونو او پنځونو له لارې رامنځته کیږي په دې شرط چې د هغوی د راڅرګندیدو لپاره شرایط مساعد وي.

سربیره پر دې په انساني ټولنو کې لوی کارونه هغه وخت رامنځته کیږي چې ټولنې په منظم ډول د خپلو غړو او اتباعو د ژوند د سمون او رغونې په لور حرکت وکړي. لوی انساني کارونه یوازې هغه وخت رامنځته کیږي چې د هغوی د څرګندیدو لپاره مخکې له مخکې فرصتونه چمتو شوي وي.

د اسلام زرین دور په پرمختګ کې د عباسي خلافت رول پریکنده او برخلیک ټاکونکی و.

عباسي خلافت په خپله ځلانده دوره کې یو له سترو کارونو څخه د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د پوهانو یو ځای کول او د هغوی نظر اخیستل وو ترڅو نوې پنځونې او لاسته راوړنې ولري.

د اسلام په زرین دور کې د عباسیانو واکمني د سترو علمي پرمختګونو دوره ګڼل کیږي چې ډیری پرمختګونه یې په ریاضیاتو، ستور پوهنه، طب او فلسفه کې ترسره کړي دي.

عباســيانو چې د يوناني او رومي اثارو څخه عربي ژبې ته ژباړې سره ليوالتيا درلوده، د خپلې امپراتورۍ په بيلابيلو برخو کې يې کتابتونونه او ښــوونيز مرکزونه جوړ کړل. هغوی همدارنګه د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه بغداد ته پوهان راوبلل ترڅو خپل علم او تخصــص له دوی سره شريک کړي. دا حالت د فکري فعاليتونو د غوړيدا او ودې لامل شــو او په بيلابيلو برخو کې يې له علمي پرمختګونو سره مرسته وکړه.

لـه بلې خوا د کاغـذ پـه پيژنـدو او رواج کيـدو سره د پوهې او مالوماتو د شريک کيدو په وړاندې پخواني خنډونه له منځه ولاړل. د کاغذ کارول په اتمه زيږديزه پيړۍ کې له چين څخه د مسـلمانانو سـيمو ته بيا هسـپانيې ته او وروسـته بيا په لسـمه زيږديزه پيړۍ کې د اروپا نورو برخو ته لار پيدا کړه. مســلمان کاغذ جوړوونکو د کاغذ د توليد لپاره نوې نظريې په لار واچولې لکـه د لاسي ليکل شــويو نســخو د ډلـه ييز ويش ميتودونـه رامنځته کول چې په پايله کې يې وکولی شو چې د پيړيو پيړيو لپاره په اروپا کې لوېې ښوونيزې رسالې توليد کړي.

# یو ربښتینی بحرالعلوم

لویدیځې نړۍ زموږ لومړي اتل ابن سینا ته د "لومړني عصري طبابت پلار" نوم ورکړ.

زموږ دوهم اتل ابن رشد يې د "عقلپالنې پلار" په نوم یاد کړ.

زموږ دریيم اتل خوارزمي ته يې د " الجبر پلار " ویاړلی لقب ورکړ.

او زموږ څلورم اتل البیروني يې د ډیرې علمي څیړنیزو برخو پلار او پیلوونکی لکه لومړنی انسان پیژندونکی (anthropologist)، د عصري جیودیزۍ (ځمکسنجښت) پلار، د مذهبونو د مقایسوي مطالعاتو پلار او د هندوستان پیژندنې برخې نوښتګر په توګه نومول شوی دی.

زموږ د درې پخوانیو اتلانو په څیر البیروني هم د اسلامي زرین دور د سترو پوهانو څخه ګڼل کیږي.

کله چې ما د البیروني نوم د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د ابتدايي ښوونځي په دوره کې واورید، نو موږ ته وویل شول چې نوموړی د نجوم په علم کې د مهارت له امله مشهور شوی و. خو اوس د نویو مطالعاتو په مرسته پوهیږو چې البیروني یو ربښتینی بحرالعلوم و.

البيروني چې په ۹۷۳ زیږدیز کال کې په خوارزم (اوسني ازبکستان) کې نړۍ ته سترګې غړولې دي د اسلامي زرین دور یو له مهمو شخصیتونو څخه ګڼل کیږي. البیروني په بیلابیلو برخو کې ارزښتناک خدمتونه ترسره کړي چې له ډلې یې ریاضیات، ستورپوهنه، جغرافیه، تاریخ او انسان پیژندنه دي. د نوموړي اثار نه یوازې د هغه مهال فکري ځواک او شتمني څرګندوي بلکې د راتلونکو علمي پرمختګونو بنسټ یې هم ایښی دی.



په AI د البیروني جوړ شوی انځور

البیروني په داسې کورنۍ کې زیږیدلی چې علم او پوهې ته یې ارزښت ورکاوه او اټکل کیږي چې دغه چاره د هغه فکري غوښتنو او نظریو ته ګټوره تمامه شوې وي. د هغه د ژوند لومړنیو وختونو په اړه کره مالومات نشته خو داسې انګیرل کیږي چې نوموړي د هغه مهال موجودو بیلابیلو علومو په برخه کې پراخې زدکړې ترلاسه کړې دي. هغه د یو ځوان عالم په توګه یوناني، هندي او ایراني بډایه او ګټورو کلتورونو او دودونو ته لاسرسی درلود چې وروسته یې په خپلو اثارو کې ترې ګټه پورته کړه. د بیلابیلو کلتورونو او فلسفو سره په لومړي ځل د هغه مخ کیدل د علم او زدکړې سره د هغه کړنلاره روښانه کوي چې په دریو اصولو ولاړه ده چې له لیدنې، ازمایښت او انتقادي فکر څخه عبارت دي.

البیروني په بیلابیلو برخو کې او په پراخه توګه علم او پوهې ته خدمتونه ترسره کړي دي، خو هغه د ریاضیاتو او ستورپوهنې په برخه کې د ډیر فعالیت امله مشهور شوی دی. د هغه د لویو لاسته راوړنو څخه یوه یې د ځمکې شعاع محاسبه کول وو. البیروني د مثلثاتي اصولو څخه په ګټه اخیستنې د ځمکې محیط د اندازه کولو لپاره لارې چارې رامنځته کړې کوم چې د اسماني جسمونو د افقي او لوړوالي زاویې څخه ترلاسه کیدل. د نوموړي محاسبې ډیرې کره وې چې د هندسې او مثلثاتو په اړه د هغه غوره او پرمختللې پوهه څرګندوي.

البیروني د ځمکې د بعدونو او فزیکي ځانګړتیاو په اړه د کار سربیره د ستورپوهنې د علم په پرمختګ کې هم نه ستړې کېدونکې هلې ځلې ترسره کړې دي. هغه د اسماني جسمونو د حرکت په اړه په تفصیل سره لیکنې کړې دي او د ستورپوهنې داسې جدولونه یې وړاندې کړل چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پوهانو له هغه څخه د پېړیو پېړیو لپاره ګټه اخیستله. د سپوږمۍ بشپړېدو د بېلابېلو مرحلو څخه د هغه لیدنه، د لمر او سپوږمۍ تندر نیونې څارل او د سیارو د حرکت څرنګوالي په اړه د هغه نظریې په نوښتونو او لاسته راوړنو کې شمېرل کېږي. د مالوماتو او موندنو راټولولو او څېړلو په اړه د البیروني دقیقه کړنلاره د هغه علمي لاربښود یوه بېلګه وه چې وروسته بیا په اروپا کې په رسمي ډول وپېژندل شوه.

البیروني یو استثنایي ژبپوه و چې په خوارزمي، فارسي، عربي او سانسکریټ ژبو کې یې ځانګړې مهارت درلود او همدارنګه د یوناني، عبري او سریاني ژبو سره یې هم بلدتیا درلوده. نوموړي د خپل ژوند ډېره برخه په غزني کې تېره کړه چې د هغه مهال د غزنویانو د سلسلې پلازمینه وه چې د نننۍ افغانستان په سویل ختیځ کې موقعیت لري.

په ۱۰۱۷ زیږدیز کال کې سلطان محمود غزنوي د ری ښار ونیو. د البیروني په ګډون ډېری پوهان غزني ته چې د غزنویانو پلازمینه وه، راوستل شول. البیروني د دربار ستورپوه شو او د هندوستان پر لور د پوځي سفرونو پر مهال له سلطان محمود غزنوي سره

ملګرى و او هلته يې څو کاله ژوند هم وکړ. نوموړى ۴۴ کلن و چې د سلطان محمود غزنوي سره يو ځاى شو. البيروني د هندوستان ټولنې اړوند ټولو مسايلو په اړه مالومات ترلاسه کړل، په همدې موده کې يې د هندوستان په اړه خپلې څېړنې وليکلې او د ۱۰۳۰ زيږديز کال په شاوخوا کې يې پاى ته ورسولې.

د البيروني د کنجکاوي انګيزه د فزيکي علومو سربېره جغرافيې او کلتوري مطالعاتو ته هم وغځيده. د نوموړي اثر کتاب الهند (Book of India) د هندوستان د کلتور، مذهبونو، دودونو او علمي پوهې په اړه هر اړخيز مالومات وړاندې کوي. دغه اثر هندوستان ته د البيروني د سفرونو څخه وروسته ليکل شوى او د هندي ټولنې په اړه د حقيقي، بې پرې او د درناوي څخه ډکو بيانونو او روايتونو له امله د اهميت وړ دى. د بيلابيلو کلتوري ليدلورو د يو ځاى کولو مهارت البيروني د هغه مهال د نورو پوهانو څخه ځانګړى کوي ځکه چې هغوى به نورو بهرني کلتورونو ته د توکميز او نژادي تعصب په سترګه ليدل.

البيروني په (کتاب الهند) کې د هندي ټولنې د ژوند بيلابيل اړخونه چې له ډلې يې ټولنيز جوړښت، مذهبي چارې او د هغوى علمي لاســـته راوړنې دي په ډېر دقت سره مســـتند کړې دي، نوموړي چې د هندي رياضياتو او ستورپوهنې سره ډېره ليوالتيا درلوده، هندي مهم متنونه يې عربي ژبې ته وژباړل او په دې کار سره يې د کلتورونو ترمنځ د علومو تبادله اســـانه کړه. د هندي عددونو د سيستم په هکله د نوموړي نظريې په اسلامي نړۍ او

له هغه څخه بهر د حساب او الجبر په وروستيو پرمختګونو کې ډېر مهم رول ترسره کړ.

هغه څه چې د البيروني کړنلاره يې د نورو څخه جلا کوله هغه تجربوي کتنې او انتقادي شننې ته د هغه ژمنتيا وه. نوموړي په رسمي متنونو او سرچينو باندې د تکيه کولو پر ځای د کتنې او تجربې له لارې اټکلونو او مالوماتو باندې د اعتبار کولو پر اهميت ټينګار کاوه. يقينا چې دغه تجربوي کړنلاره په هغه وخت کې عامه نه وه، نو ځکه د نوموړي هممهاله څېړونکو به د مالوماتو د ترلاسه کولو لپاره له دوديزو کړنلارو څخه ګټه اخيسته.

البيروني په خپلو ليکنو کې د فلسفي تخيل او علمي څېړنو ترمنځ توپير په نظر کې نيوه. هغه باور درلود چې علم او پوهه بايد د ليدنو او ثبوت پر بنسټ واوسي او همدارنګه نظريې هم بايد په هغو مالوماتو ولاړې وي چې د ليدنو او تجربو څخه لاسته راځي. دې پراخې او منطقي نظريې هغه عصري علمي ميتودونو ته زمينه برابره کړه چې ليدنې، تجربې او انتقادي شننې ته لومړيتوب ورکوي.

د البيروني هلو ځلو او خدمتونو د علم او پوهې په بيلابيلو برخو باندې ژور او پراخه اغيز درلود. د هغه اثار لاتيني او نورو ژبو ته وژباړل شول او د رنسانس په دوره کې په ټوله اروپا کې پوهان د هغه تر اغيز لاندې راغلل. د رياضي او ستورپوهنې په برخه کې

د نوموړي نظرېي د اروپا د علمي نظريو سره يو ځای شوې او په دې برخه کې يې پرمختګ ته لاره هواره کړه.

د البيروني علمي نفوذ او اغېز د رياضياتو او ستورپوهنې سربېره نورو برخو ته هم وغځېد. د کلتوري مطالعاتو په اړه د هغه کړنلاره او پر تجربوي ليدنې د هغه ټينګار د انسان پېژندنې او ټولنيزو علومو په برخو کې راتلونکو څېړونکو لپاره د الهام په سرچينه بدله شوه. د بيلابيلو کلتورونو سره د نوموړي د درناوي څخه ډک چلند عصري څېړونکو لپاره د يو لارښود حيثيت لري کوم چې د انساني ټولنو د پيچلتياو د څېړلو په تکل کې دي.

د البيروني ميراث په اسلامي نړۍ کې خپلې ودې ته ادامه ورکړه او لا وغوړېد. د نوموړي اثار د راتلونکي نسلونو پوهانو او څېړونکو لخوا ولوستل شول او د هغه اصول او کاري ميتودونه په سيمه کې د علمي څېړنو په پراختيا کې ګټور تمام شول. البيروني تقريبا په بيلابيلو برخو کې مطالعات ترسره کړي او د هغه بې ساري وړتيا چې د بيلابيلو علمي برخو ترمنځ يې تشه ډکه کړه تر اوسه پورې يې ستاينه کيږي.

البيروني د علم او کمال په تاريخ کې د يو ستر شخصيت په توګه پېژندل کيږي. د رياضياتو، ستورپوهنې، جغرافيې او کلتوري مطالعاتو په برخه کې د نوموړي خدمتونه د اسلامي زرين دور له فکري شتمنيو څخه ګڼل کيږي. البيروني د تجربوي کړنلارې

او بیلابیلو کلتورونو د کشف او درک له لارې نه یوازې په خپل وخت کې علم او پوهې ته پراختیا ورکړه بلکې د راتلونکي نسل پوهانو ته يې هم د علمي پرمختګ زمینه برابره کړه. یقینا د هغه توصیه چې د کنجکاوي انګیزې پیاوړې کول، انتقادي فکر او د ټولو ملتونو او کلتورونو څخه د زدکړې کول وو تل به د هغه د میراث په توګه پاتې وي.

لکه څرنګه چې د البیروني د ژوند او د هغه د اثارو په اړه غور او فکر کوو، نو د بیلابیلو برخو په اړه د مطالعاتو اهمیت، د ازادخیالۍ ارزښت او د خپل چاپیریال او نړۍ د درک لپاره د تعصب او کرکې څخه پاک ذهنیت موږ ته څرګندیږي. د نوموړي خدمتونه او لاسته راوړنې په دوامداره توګه د نړۍ پوهانو او څیړونکو ته الهام ورکوي او موږ هر یو ته دا برخلیک ټاکونکې یادونه کوي چې د علم او پوهې زدکړه هیڅ پوله او حد نه پیژني.

سرچینې:

د ۲۱ مې پېړۍ ریفرینس:


۱. www.google.com

۲. www.amazon.com

٣. www.wikipedia.com

٤. ChatGPT

٥. www.youtube.com

٦. "The Internet Encyclopaedia of Philosophy

٧. "Major periods of Muslim education and learning". *Encyclopedia Britannica Online*


کتابونه:


١. Bosworth, C. Edmund (٢٠٠٠). "Bīrūnī, Abū Rayḥān"

٢. Strohmaier, Gotthard (٢٠٠٦). "Biruni". In Meri, Josef W. (ed.). *Medieval Islamic Civilization:*

# یو عصري مخترع

موږ روباټیک (Robotics) یوه نوې مفکوره او د یوویشتمې پېړۍ نوښت ګڼو، خو څه احساس به وکړئ که چیرې تاسې ته ووایم چې په دولسمه زیږدیزه پېړۍ کې، یعنې شاوخوا ۸۰۰ کاله پخوا، یو مسلمان مخترع لومړنی کس و چې د عصري روباټیک او میخانیکي انجنیري بنسټ یې کیښود.

خو راځئ چې په پیل کې په دې بحث وکړو چې روباټیک څه شی دی.

روباټیک د څو بیلابیلو مسلکونو هغه ګډه رشته ده چې د داسې ماشینونو د طرحې، جوړونې او پروګرام کولو په برخه کې کار کوي چې چارې په بشپړه یا نیمه بشپړه توګه ترسره کوي. دا څانګه د میخانیکي انجنیري، الکترونیک او کمپیوټر پوهه سره یو ځای کوي، ترڅو داسې سیستمونه رامنځته کړي چې په فزیکي چاپیریال کې د حس کولو، پروسس او عمل کولو وړتیا ولري.

د علم او ټکنالوژۍ تاریخ د هغو شخصیتونو په لاس لیکل شوی چې د هغوی نبوغ د خپل وخت څخه ډیر پورته و.

اسماعیل الجزري (۱۱۳۶–۱۲۰۶م) د اسلام زرین دور یو له ځلانده څیرو څخه شمېرل کیږي، چې د خپلو اثارو په مټ يې د میخانیکي انجنیري او عصري روباټیک د بنسټ ډبره کېښوده.

الجزري چې د "روباټیک پلار " په نوم پېژندل کیږي، هنر، عملي انجنیري او نظري لید يې سره یوځای کړل ترڅو داسې وسایل جوړ کړي چې د خپل وخت څخه پېړۍ پېړۍ وړاندې وي. د نوموړي مهم اثر د هوښیارو میخانیکي ماشینونو د پوهې کتاب (كتاب في معرفة الحيل الهندسية) لا هم د ټکنالوژۍ په تاریخ کې له اغېزناکو په لاس لیکل شویو اثارو څخه ګڼل کیږي.



په AI د الجزري جوړ شوی انځور

الجزري په ۱۱۳۶ زیږدیز کال کې د بین النهرین په لوړه سیمه، ښايي په جیزره کې (چې د ننني ترکيې برخه ده) نړۍ ته سترګې غړولې وې. نوموړي له فکري پرمختګ څخه ډک دور کې ژوند کاوه چې د اسلام زرین دور په نوم پېژندل کیږي.

الجزري د ارتقیانو د دربار ستر انجنیر و چې په دیاربکر کې یې دنده ترسره کوله. هلته یې د ماڼیو او عامه چارو لپاره هایدرولیک سیستمونه او میخانیکي وسایل ډیزاین کړل. دې موقف له نوموړي سره مرسته وکړه چې خپلې نظریې په لسګونه ځلې وازمویې، سمون ورکړي او په پای کې د اثارو داسې یوه ټولګه رامنځته کړي چې پکې اغیزناک کیدا له ښکلا سره یو ځای شوې وي.

د "في معرفة الحیل الهندسیة" کتاب چې په ۱۲۰۶ زیږدیز کال کې بشپړ شوی، د منځنیو پیړیو د انجنیرۍ یو بې ساری اثر ګڼل کیږي. دا کتاب ۵۰ ډوله میخانیکي دستګاوې راپېژني چې له ډلې یې د اوبو ساعتونه، اتومات وسایل، د اوبو فوارې او د اوبو پورته کوونکي ماشینونه یادولی شو.

یاد کتاب شپږ فصلونه لري، چې هر فصل یې د یوې ځانګړې اختراع په اړه مالومات وړاندې کوي. همدارنګه د دې کتاب سره ۱۷۴ پیچلي ګرافونه او ګام په ګام لارښودونه هم مل / ضمیمه شوي دي. الجزري د خپل وخت د ډیری پوهانو برعکس، خپل

اثار په کره توګه لیکلي ځو ډادمن شي چې د پوهې دا خزانه راتلونکو نسلونو ته په خوندي توګه ولیږدول شي.

دا کتاب نه یوازې د تخنیکي محتوا له پلوه، بلکې د هنري کیفیت له اړخه هم بې ساری بلل کیږي. ګرافونه یې خورا دقیق دي، چې د الجزري د دوه ګوني شخصیت یعنې انجنیر او هنرمند ښکارندوي کوي. ځیرونکو دا اثر د عصري عملي لارښود "په خپله یې ترسره کړه" سره ورته ګڼلی، ځکه چې د نظري لارو چارو پر ځای پر عملي کړنلارو ډیر ټینګار کوي.

د الجزري اختراع ګانې په دې دلالت کوي چې نوموړي د میخانیک، هایدرولیک او اتومات کولو په علومو کې ژوره پوهه درلوده. دلته یې ځینې مهمې لاسته راوړنې وړاندې کیږي.

۱.د فیل ساعت

د الجزري تر ټولو پیژندل شوې اختراع ښایي د فیل ساعت وي، دا یو پیچلی په اوبو چلیدونکی ساعت و چې د هندي، یوناني او اسلامي کلتورونو بیلابیل عناصر پکې یو ځای شوي وو. دې ساعت فیل ته ورته بڼه درلوده، چې د پټ میکانیزم له لارې د پرله پسې خوځښتونو په مرسته لکه د فیلبان له لوري د سنج په وهلو سره وخت ښوده. دا وسیله د ټکنالوژیکي نبوغ او کلتوري یووالي نښه وه.

## ۲.د اوبو او شمعو ساعتونه

الجزري بيلابيل ډول ساعتونه جوړ کړل، لکه د اوبو او شمعې ساعتونه، چې د مايعاتو د خوځښت او د وخت د اندازه کولو په برخه کې د نوموړي مهارت څرګندوي. دا وسايل نه يوازې ګټور وو، بلکې ډيری وخت به د نقش لرونکو مجسمو او اتومات وسايلو په واسطه ښکلي شوي وو، ترڅو علم او هنر په زړه راښکونکي ډول سره يو ځای کړي.

## ۳.اتومات وسايل (لومړني روباټونه)

د الجزري اتومات وسايل د عصري روباټيک د پيدايښت بنسټ ګڼل کيږي. نوموړي د انسان په څير داسې ماشينونه جوړ کړل چې دندې يې په اتومات ډول ترسره کولی شوې، لکه د څښاک برابرول يا د لاسونو مينځل. د نوموړي له زړه راښکونکو اختراعاتو څخه يو يې د طاووس فواره وه، دا داسې يوه اله وه چې د لاسونو مينځلو لپاره کاريدله او ميخانيکي خدمې به يې دستمال او صابون وړاندې کول. بله حيرانوونکې اختراع د کښتۍ پر مخ د موسيقي يوه روباټيکه ډله وه چې د سلطنتي کورنۍ د ساتيرۍ لپاره ډيزاين شوې وه.

## ٤. د اوبو پورته کولو ماشينونه

د الجزري په عملي اختراع ګڼو کې د ساقيه زنځيري پمپونه او د اوبو پورته کولو نور ماشينونه شامل وو، چې د کرنې او اوبو رسولو په برخه کې يې خورا اهميت درلود. دغه ماشينونو به له

کرینکشافټ او ګیرډنډو څخه کار اخیست، دا هغه میکانیزمونه وو چې د انجنیري په راتلونکو پرمختګونو کې یې بنسټیز رول ولوباوه.

الجزري لومړی شخص و چې له کرینکشافټ څخه چې د عصري ماشینونو مهمه پرزه ده، کار واخیست. دغه نوښت د نوموړي وړتیا څرګندوي چې د میخانیکي قوانینو وړاندوینه وکړي، هغه قوانین چې څو پېړۍ وروسته د انجنیري په علم واکمن شول.

د الجزري کړنلاره په بشپړ ډول پر تجربه ولاړه وه. هغه په دوامداره جوړښت او ډیزاین ټینګار درلود او ډېری وخت به یې د ذهني محاسباتو پر ځای د فزیکي ازموینې او خطا لار غوره کوله. د نوموړي اثار د نظري پوهې او عملي مهارت ګډ انځور دی، چې د تطبیقي علومو اصلي روحیه څرګندوي.

سربېره پر دې، د الجزري وسایل یوازې د کارونې لپاره نه وو، بلکې په کلتوري ظرافتونو او بیلابیلو ښکلاو سمبال وو. الجزري د هنر په انجنیري کې ورګډولو سره میخانیکي ډیزاین د خلاقیت ژبه وګرځوله.

د الجزري میراث د هغه د ژوند له پولو هاخوا هم دوام درلود. د نوموړي نظریات د پروګرام کیدونکو اتومات وسایلو، هایدرولیک کنټرول او میخانیکي ګیرډنډو په اړه، د عصري روباټیک او اتوماتیک ټکنالوژۍ د راتلونکو پرمختګونو لومړنۍ

نښې وې. تاریخ پوهان د هغه اثار د سایبرنیټیک او کنټرولي سیستمونو د پرمختګ د پیل ټکی ګڼي.

داسې انګیرل کیږي چې لئوناردو داوینچي او د رنسانس د دورې نور انجنیران د الجزري د ډیزاینونو تر اغیز لاندې راغلي وو، کوم چې د لاسي لیکنو او ژباړو له لارې خپاره شوي وو. نن ورځ د نوموړي اصول او لارښوونې په بیلابیلو برخو کې له روباټیک څخه نیولې بیا تر صنعتي اتومات سازۍ پورې د منلو وړ ګڼل کیږي، چې د نوموړي د نظریاتو نه ماتیدونکی اعتبار څرګندوي.

د الجزري اختراع ګانې یوازې تخنیکي لاسته راوړنې نه وې بلکې ټولو یې د اسلام زرین دور په کلتوري چاپیریال کې ریښې لرلې. د هغه اثار د پوهې شریکولو، د ښکلا پالنې او د علم او هنر د عملي کارونې ارزښتونه څرګندوي. هغه مهال چې سیاسي ګډوډۍ ډیرې وې، د الجزري اختراع ګانو به هم عملي حل لارې او هم هنري ښکلاوې وړاندې کولې، په داسې ډول چې هم یې بزګرانو ته ګټه رسوله او هم یې پاچاهان خوشالول.

اسماعیل الجزري د علم او ټکنالوژۍ په تاریخ کې د یو ویاړلي شخص په توګه راڅرګند شوی دی. د نوموړي د انجنیري دقت، هنري خلاقیت او عملي ځیرکتیا ګډ ترکیب هغه ته د "روباټیک پلار" لقب ورکړی او د تاریخ د سترو اختراع کوونکو په کتار کې یې ځای ورکړی دی. د نوموړي کتابونو او اختراع ګانو نه یوازې د هغه مهال میخانیکي پوهه بدله کړه، بلکې د هغو برخو بنسټ

يې هم کيښود چې زموږ نننۍ نړۍ تعريفوي. د الجزري ميراث د انساني تخيل د تلپاتې ځواک سند دی، د منځنيو پيړيو او عصري دورې ترمنځ يو پل جوړوي او د عملي ژوند او هنري ابتکار ترکيب ښرګندوي.

سرچينې:

د ۲۱ مې پېړۍ ريفرينس:


۱. www.google.com

۲. www.amazon.com

۳. www.wikipedia.com

٤. ChatGPT

٥. www.youtube.com

٦. "The Internet Encyclopaedia of Philosophy

۷. "Major periods of Muslim education and learning". *Encyclopedia Britannica Online*

# کتابونه:


١. **Jorge Elices (٣٠ July ٢٠٢٠). "Ismail al-Jazari, the Muslim inventor whom some call the 'Father of Robotics'"**

٢. **Dr. Norman Smith (٤ April ١٩٧٤). "The Arabian legacy"**

# د نړۍ نومیالی طبیب

زموږ شیرم اتل ابوبکر محمد بن ذکریا رازي په خپل ژوند کې دوه ځله ژړلي دي. لومړی ځل هغه مهال و چې د بقراط (Hippocrates) کتاب ته یې لاسرسی پیدا کړ او دوهم ځل هغه وخت و چې نوموړی پوه شو چې د طبیب او مخترع په توګه د بقراط څخه هم لوړې کچې ته رسیدلی دی.

زموږ اتل رازي لومړی ځل د دې لپاره وژړل چې باور یې نه شو کولی چې له هغه څخه ۱۵۰۰ کاله پخوا یو شخص (بقراط) دې د طبابت په ډګر کې داسې یو بې ساری اثر رامنځته کړی وي. الرازي د ډیرو کلونو لپاره د بقراط له کتابونو څخه په الهام اخیستنې سره نوي درسونه زده کول.

خو بقراط څوک و چې دوه ځله زموږ د اتل رازي د ژړیدا لامل شو؟

بقراط یو یوناني طبیب او فیلسوف و چې شاوخوا ۲۴۰۰ کاله مخکې یې ژوند کاوه. نوموړی د طب د تاریخ له سترو څیرو څخه ګڼل کیږي او د "طبابت علم پلار" نوم ورکړل شوی دی. بقراط د تاریخ لومړی شخص و چې د ناروغ مخامخ لیدنه، د ناروغۍ بهیر وړاندوینه او د ناروغیو طبقه بندي یې رامنځته کړه.

بقراط د بشر په تاریخ کې لومړی کس و چې د طبابت او دین ترمنځ یې جلاوالی رامنځته کړ. هغه باور درلود او داسې استدلال یې کاوه چې ناروغۍ د خدایانو لخوا د خلکو لپاره سزا نه ده، بلکې د چاپیریالي عواملو، غذايي رژیم او ژوندانه د عاداتو پایله ده.

په حقیقت کې د بقراط طبابت مکتب د لرغوني یونان په طب کې بدلون راوست او دا یې د فلسفې په څیر له نورو برخو څخه جلا او خپلواکه رشته وګرځوله.

په بل عبارت دا د بقراط د هڅو برکت و چې په تاریخ کې په لومړي ځل طبابت د یو مسلک په توګه وپېژندل او تثبیت شو.

او زموږ اتل الرازي هم د بقراط لاره ونیوله او د تاریخ لومړی مسلکي طبیب شو. نوموړی په دې باور و چې د طبابت موخه باید د بشریت لپاره خدمت ترسره کول وي نه د ګټې لاسته راوړل.



په AI د رازي جوړ شوی انځور

ابوبکر محمد بن ذکريا رازي چې په لويديځ کې د "الرازي" يا "رازس" په نوم پيژندل کيږي، د اسلامي زرين دور يو له پيژندل شويو او اغيز لرونکو پوهانو څخه ګڼل کيږي.

رازي په بيلابيلو علمي برخو کې لکه طب، کيميا، فلسفه او کيمياګري کې خدمتونه او فعاليتونه ترسره کړي چې نوموړی يې په يو رښتيني علامه بدل کړی.

رازي چې د ۸۶۵ زیږدیز کال په شاوخوا کې د اوسني ایران د تهران سره نږدې د ری په سیمه کې زیږیدلی، نوموړي په داسې وخت کې ژوند کاوه چې اسلامي نړۍ په بشري ټولنو کې د علم، فلسفې او کلتوري پرمختګ یو بیلګه وه. هغه د فکري کنجکاوي، تجربوي لیدنو ته ژمنتیا او د پوهې په اړه منطقي کړنلارې له امله وستایل شو. د نوموړي اثارو او نظریې پر اسلامي او غربي فکري دودونو ژورې اغیزې پریښې دي.

د رازي د ژوند لومړیو وختونو په اړه کره مالومات نشته، خو هغه څه چې روښانه دي هغه دا دي چې نوموړي خپلې زدکړې په ری کې پیل کړې چیرته چې هغه زیږیدلی او د هغه د علمي او تحصیلي فعالیتونو له امله پیژندل شوی دی. په لومړیو کې یې د هنر او موسیقي سره لیوالتیا درلوده خو وروسته یې فلسفې، ریاضیات او طب ته مخه کړه، په کومو برخو کې چې نوموړي خپل ارزښتناک خدمتونه وړاندې کړي دي.

د طب ډګر ته د رازي د راتلو پریکړه په عمومي توګه د انسان د بدن جوړښت او د هغه ناروغیو په اړه د هغه د لیوالتیا له امله وه چې خلک ورسره مخ کیدل. نوموړی طبي ستونزو ته د عملي حل لارو په لټه کې و او تجربوي میتودونو یې نوموړي د هغه مهال د ډیرو پوهانو څخه جلا کاوه. د الرازي کړنلاره د لیدنې او ازمایښت پر بنسټ وه چې په پایله کې یې د هغه مهال ځینې منل شوې طبي نظریې تر پوښتنې لاندې راوستې.

د رازي تلپاتې میراث د طب په برخه کې د نوموړي ګټور فعالیتونه دي. هغه تقریبا د تاریخ  یو له خورا مهمو طبیبانو څخه ګڼل کیږي. او د نوموړي لیکنو د اسلامي او اروپايي طبابت پر میتودونو او نمونو باندې ژور اغیز درلود. د هغه طبي اثارو د عمومي طب نظرېي څخه نیولې بیا تر ځانګړو ناروغیو او درملنې پورې پې ټول موضوعات په پراخه توګه تر پوښښ لاندې نیول.

الحاوي یا جامع کتاب (The Comprehensive Book) د رازي یو له خورا مشهورو اثارو څخه دی چې د طبي مالوماتو څخه ډک و. دې ارزښتناک اثر د هغه مهال ټول موجود طبي مالومات چې په هغه کې خپله د لیکونکي کتنې او تجربې هم شاملې وې راټولې او وړاندې کړې وې. الحاوي د یوناني، هندي او ایراني طبي متنونو په اړه د الرازي پراخه پوهه څرګندوله چې نوموړي هغه په انتقادي ډول ترتیب، ترکیب او ارزولې وې. رازي هیڅکله د پخوانیو عالمانو په علم او پوهې قناعت ونکړ، نوموړي د دودیز طب سرچینو ډیری نسخې چې له ډلې یې د جالینوس (Galen) او بقراط (Hippocrates) ستایل شوي اثار وو تر پوښتنې لاندې راوستې.

الحاوي په اسلامي نړۍ او اروپا کې د پیړیو پیړیو لپاره د طبي علم د بنسټ ډبرې په توګه پاتې شو. دغه کتاب په ۱۳مه پیړۍ کې لاتیني ژبې ته وژباړل شو او په دې ژبني قلمرو کې د "Liber Continens" په توګه علمي ټولنې ته ور وپېژندل شو او د

رنسانس تر دورې پورې يې په اروپايي پوهنتونونو کې د طبابت سرچینې متن رول ترسره کړ.

د رازي د نورو نوښتونو څخه یو یې د چیچک او شري په اړه کتاب (On Smallpox and Measles) په نوم علمي مقالې لیکل و. دا اثر د ساري ناروغیو په اړه یو له لومړنیو پراخه مطالعاتو څخه ګڼل کیږي. رازي د شري او چیچک په اړه تفصیلي کلینیکي توضیحات وړاندې کړل او دا دوه ناروغۍ یې یو له بله بیلې کړې کوم چې پخوانیو طبیبانو به یې ترمنځ توپیر نه کاوه. د دې ناروغۍ د نښو راڅرګندیدو، پرمختګ مرحلې او د درملنې میتودونو په اړه د نوموړي کتنې دومره سمې وې چې د پیړیو پیړیو لپاره ترې د یوې منل شوې سرچینې په توګه ګټه واخیستل شوه.

هغه څه چې د چیچک او شري په کتاب کې رازي د کړنلارې په اړه په زړه پورې او د ستایلو وړ ښکاري هغه پر پخوانیو فرضیو او تیوري ګانو باندې د باور کولو پر ځای په مخامخ ډول د ناروغانو کتلو باندې ټینګار کړی. نوموړي د شري او چیچک د پراختیا نښې او مرحلې په دومره بې ساري دقت سره بیان کړې چې د عصري کلینیکي طب بنسټ ایښودل یې ممکن کړل.

رازي د طب په مسلک کې د اخلاقي اصولو پر اهمیت ټینګار کاوه. نوموړي د معنوي طب (A Spiritual Physic) په نوم په خپله مقاله کې د طبیبانو اخلاقي مسوولیتونو موضوع د بحث او

ښېرنې لاندې راوسته او د ناروغ لپاره يې د مهربانۍ، رښتينوالي او هوسايني اصولو په نظر کې نيولو څخه تر ټولو ډېره دفاع وکړه. نوموړي په هغو طبيبانو نيوکه کوله چې د ناروغ تر درملنې يې خپلې ګټې ورته لومړيتوب درلود او باور يې درلود چې طبابت بايد د انسانيت او دوستي پر بنسټ ولاړ وي.

د رازي دې اخلاقي ليدلوري او د هغه تجربوي ميتودولوژي نوموړی د طب مسلک د معياري کولو د ميدان ګټونکی کړ. د ناروغ پاملرنه، کتنه او عقل پالنې باندې د هغه ځانګړې ټينګار نوموړی د هغه مهال له طبيبانو څخه جلا کړ او د نوموړي له مړينې څخه وروسته هم د هغه اثار د طبابت په ډګر کې په اخلاقو او چلند باندې اغېزمن تمام شول.

که څه هم رازي د طب په ډګر کې د ډېرو خدمتونو او هڅو له امله شهرت موند، خو هغه د کيميا او کيمياګري په برخه کې هم يو وتلی شخصيت و. په دې برخو کې د رازي اثارو له امله د ځينو ليکونکو لخوا نوموړي ته د "کيميا پلار" لقب هم ورکړل شوی دی. د کيميا په اړه د الرازي کړنلاره کټ مټ د طب په اړه د هغه د کړنلارې په څېر په کتنو او ازمايښت ولاړه وه، نه د تصوف او بې ځايه باورونو باندې کوم چې د هغه مهال ډېری کيميا پوهانو ترمنځ دود وه.

د کيميا او کيمياګري په برخه کې د رازي يو له مهمو اثارو څخه د رازونو کتاب (The Book of Secrets) دی. دا کتاب د

کیمیاوي تعاملاتو لاربښود و چې له ډلې یې د بیلابیلو ترکیبونو او موادو جوړولو لپاره لاربښوونې کولې. نوموړي په دې اثر کې د الکولو د تقطیر څرنګوالی، د تیزابو چمتو کول او بیلابیل کیمیاوي تعاملات بیان کړل چې ډیری یې هغه مهال نوي وو. د نوموړي هڅو د کیمیا په ډګر کې د راتلونکو پرمختګونو لپاره لاره هواره کړه.

د کیمیا په اړه د رازي عملي تګلاره د پخوانیو کیمیاپوهانو د میتودونو څخه مخ ګرځول و. هغه د سرو زرو په اساس د فلزاتو د تبادلې پر امکان باور درلود لکه څنګه چې د ډیرو کیمیاپوهانو ارمان و، خو نوموړی د طبابت او صنعت په ډګر کې د کیمیا علم د عملي کارولو سره ډیر لیواله و. د بیلګې په توګه د تیزابو په اړه د هغه د کار طریقې د صنعتي کیمیا په پراختیا کې د پام وړ اغیز درلود.

رازي د طب او کیمیا په برخه کې د فعالیت سربیره، داسې یو فیلسوف و چې د هغه مهال په فکري بحثونو او مناظرو کې په ژوره توګه ښکیل و او لیوالتیا یې ورسره درلوده. د نوموړي فلسفي نظریې اکثرا جنجالي وې، ځکه چې هغه د استدلال او عقل پالنې سخت ملاتړی و. چې کله نا کله به د هغه مهال د ارتدکس مذهب د اصولو سره په ټکر کې واقع کیده.

رازي د ارسطو فلسفې په ځینو اړخونو په ځانګړې توګه د متافزیک او د روح ماهیت په اړه د نوموړي پر نظریې نیوکې

درلودې. نوموړي په خپلو فلسفي ليکنو کې د نړۍ درک کول د تجربوي کړنلارې او د عقل څخه په ګټه اخيستنې باندې ټينګار کاوه. هغه باور درلود چې عقل د رښتيا موندلو لپاره نهايي وسيله ده او انسان يوازې په مذهبي زدکړو او متافزيک باندې د تکيه کولو پر ځای کولی شي چې د کتنې او انتقادي فکر له لارې نړۍ په سمه توګه درک کړي.

## تلپاتې پينځه ګوني اصول

د رازي يو له مشهورو فلسفي نظريو څخه يو يې د تلپاتې پينځه نه بدليدونکو اصولو نظريه وه چې باور يې درلود چې پر کايناتو واکمن دي. دا اصول عبارت دي له:

1 - خدای؛ د کايناتو پيدا کوونکی او ساتونکی.

2 - روح؛ په ژونديو موجوداتو کې د ژوند ځواک.

3 - ماده؛ فزيکي جوهر دی چې ټول شيان له هغه څخه جوړ شوي دي.

4 - فضا؛ خلا ده چې په هغه کې ماده شتون لري او ښکاري.

5 - وخت؛ بې وقفې جريان دی په کوم کې چې پيښې رامنځته کيږي.

د تلپاتې پينځه ګونو اصولو څخه د رازي موخه د بيلابيلو فلسفي دودونو لکه يوناني، ايراني او هندي نظريو څخه يو بې سارې ترکيب وړاندې کول و. په منطقي استدلال او تجربوي کتنې د نوموړي ټينګار حتی د متافزيک په بحثونو کې د عقل پالنې مکتب ته د نوموړي ژمنتيا څرګندوي.

په اسلامي نړۍ او اروپا کې د رازي اغيز د هغه مهال څخه ډېر پراخه شو. د نوموړي اثار لاتيني ژبې ته وژباړل شول او په پايله کې د منځنيو پيړيو اروپايي متنونو کې د "رازس" په نوم وپېژندل شو. په ځانګړې توګه د نوموړي طبي ليکنې د پيړيو لپاره په اروپايي پوهنتونونو کې مطالعه شوې او په لويديځه نړۍ کې يې طبي پرمختګونو ته زمينه برابره کړه.

رازي په اسلامي نړۍ کې دهغه مهال يو له سترو پوهانو څخه ګڼل کيده، که څه هم د نوموړي ځينې اختلافي فلسفي نظريې د مذهبي سرچينو لخوا تر نيوکې لاندې هم نيول کيدې. په هر حال د علم، طب او فلسفې په برخه کې د نوموړي بې ساري خدمتونه ټولو ته د منلو او درناوي وړ وو.

رازي د اسلامي زرين دور يو مهم شخصيت ګڼل کيږي. هغه د تعليم په اړتيا، منطقي استدلال او د پوهې په لټه ټينګار درلود.

په بغداد کې د بیت الحکمه په شان هغه علمي مرکزونه چې د اسلام زرین دور کې یې وده او پرمختګ کړی و هغه ځایونه وو چې یوازې د رازي په شان پوهانو کولی شول چې هلته د بیلابیلو کلتورونو او دودونو له نظریو سره یو ځای شي. د یوناني، ایراني، هندي او نورو سرچینو له متونو څخه د علم او پوهې په یو ځای کولو کې د نومورړي ورتیا او مهارت هغه د دې مهال په یو ستر فکري شخصیت بدل کړ.

د طب، کیمیا او فلسفې په برخه کې د رازي خدمتونه او څیړنې په نوښتونو کې ګڼل کیدې. په تجربوي کتنو، عقل پالنې او اخلاقي چلند د هغه ټینګار نومورړی د هغه مهال د ډیرو نورو پوهانو څخه جلا کړ او په دې ډول یې د عصري طبابت او علمي تفکر بنسټ کیښود. د اسلامي زرین دور د سترو پوهانو څخه یو یې رازي و چې د نومورړي اثار د کلتوري او جغرافیایي پولو څخه واوښتل او په اسلامي نړۍ او لویدیځ یې اغیز وکړ. یقینا چې د نومورړي میراث به د منځنیو پیړیو یو له مهمو متفکرانو په توګه د علم او پوهې په اړه د استدلال او څیړنې فضیلت د یو څرګند دلیل او سند په توګه پاتې شي.


سرچینې:
د ۲۱ مې پیړۍ ریفرینس:

۱. www.google.com

۲. www.amazon.com

٣. **www.wikipedia.com**

٤. **ChatGPT**

٥. **www.youtube.com**

٦. **"The Internet Encyclopaedia of Philosophy**

٧. **"Major periods of Muslim education and learning". *Encyclopedia Britannica Online***


**کتابونه:**

١. **Walker, Paul E. (١٩٩٨). "al-Razi, Abu Bakr Muhammad ibn Zakariyya' (d. ٩٢٥)". In Craig, Edward (ed.). *Routledge Encyclopedia of Philosophy*.**

٢. **Iskandar, Albert Z. (٢٠٠٨). "Al-Rāzī". In Selin, Helaine (ed.). *Encyclopaedia of the History of Science, Technology, and Medicine in Non-Western Cultures***

# دوهم ښوونکی

زموږ اووم اتل فارابي چې په لویدیځ کې د الفارابیوس (Alpharabius) په نوم پېژندل کیږي، د اسلامي زرین دور یو له اغیزناکو فیلسوفانو او د فلسفې په تاریخ کې د یو برخلیک ټاکونکي شخص په توګه منل شوی دی.

فارابي د اسلامي سیاسي فلسفې پلار ګڼل کیږي.

د فارابي فلسفي لیکنې په لویدیځ کې دومره پراخه پېژندګلوي ترلاسه کړه چې هغه د "دوهم ښوونکی" په نوم وپېژندل شو. د یادونې وړ ده چې په تاریخي لحاظ ارسطو د "لومړی ښوونکي" په توګه پېژندل کیږي.

فارابي لرغوني یوناني فلسفي دودونه د اسلامي نړۍ له لوړ فکري کلتور سره ونښلول او د پیړیو پیړیو لپاره یې د روښانه فکري فعالیتونو لپاره زمینه مساعده کړه.

په دې مقاله کې د فارابي د ژوند، مهمو اثارو، نظریو او راتلونکو نسلونو ته د هغه د پریښودل شوي میراث په اړه بحث کیږي.

فارابي چې په ۸۷۲ زیږدیز کال کې په فاراب (اوسني قزاقستان) کې نړۍ ته سترګې غړولې دي په بیلابیلو برخو کې خدمتونه او

فعالیتونه ترسره کړي چې له ډلې يې فلسفه، علم، موسيقي، منطق او سیاست یادولی شو.

فارابي د هغه مهال د عباسي خلافت د ختيځ په یو لیرې سیمه فاراب کې په یوه فارسي ژبې کورنۍ کې زیږيدلی دی. د نوموړي د ژوند د لومړیو په اړه کره مالومات نشته، خو داسې اټکل کیږي چې کیدی شي نوموړي خپلې زدکړې په بغداد کې چې د هغه مهال د اسلامي نړۍ د فکر زړه و ترلاسه کړې وي. بغداد د یوناني، ايراني، هندي او عربي فکري دودونو د ويلې کولو مرکز و او ژباړې او د کلاسيکې پوهې ساتلو ته د عباسي خلافت ژمنتیا د فارابي لپاره د زدکړو زمینه برابره کړه.



په AI د فارابي جوړ شوی انځور

فارابي وروسته په حران او ښايي په دمشق او حلب کې زدکړې او څېړنې ترسره کړې وي چې په هغه ځای کې د حمداني واکمن سیف‌الدوله له ملاتړه برخمن شو. دغه دوستانه اړیکو فارابي ته د خپلو مهمو اثارو لیکلو لپاره لازم مالي ثبات او ذهني ارامتیا وروبخښله. نوموړی چې د زاهد په څیر د ژوند کولو له امله مشهور و خپل ټول وخت یې د مادي اړتیاو د ترلاسه کولو پر ځای علمي څېړنو ته ځانګړی کړی و. چې بالاخره یې په ۹۵۰ زیږدیز کال په دمشق ښار کې له نړۍ سترګې پټې کړې.

فارابي د ارسطو فلسفې کې د لوړې پوهې او هڅې ته د پراختیا ورکولو له کبله د "دوهم ښوونکی" لقب ترلاسه کړ. په اسلامي دود کې د یوناني فلسفې او د افلاطون او ارسطو نظریو یوځای کول د نوموړي په خدمتونو او فکري لاسته راوړنو کې شامل دي. نوموړی تر ډېره بریده په دې هڅه کې و چې اسلامي مفکورې له لرغوني یوناني منطقي فلسفې سره یو ځای کړي، دا هغه لوی رسالت و چې وروسته یې د ابن سینا او ابن رشد په څیر لوی متفکران تر اغیز لاندې راوستل.

د فارابي یو له سترو کارونو څخه د منطق په ډګر کې د هغه فعالیت و. فارابي د ارسطو ارګانون په مټ د منطق برخې ته په دوه نورو فرعي څانګو کې پراختیا ورکړه: تخیل ( imaginative reasoning) او استدلال (demonstrative reasoning). نوموړي په فلسفي څېړنو او ورځنیو خبرو اترو کې له منطق څخه

پر عملي ګټې اخيستنې ټينګار کاوه او هغه يې د خپلو فکري هڅو د بنسټ ډبرې په توګه کېښوده.

فارابي همدارنګه د علم او پوهې لاسته راوړلو لپاره منطق د يوې وسيلې په توګه په بيلابيلو کټګوريو وويشه او د بلاغت هنر يا د وينا کولو هنر او ډيالکتيک يا د منطقي بحث ميتود ترمنځ يې توپير وکړ چې لومړی يې د اوريدونکي قانع کول او دوهم يې د رښتيا موندلو په هڅه کې دی. نوموړي د منطق مسووليتونو او محدوديتونو په روښانه کولو سره د راتلونکو مسلمانو پوهانو او فيلسوفانو لپاره د ډېر او ښه کار کولو زمينه برابره کړه.

د فارابي ميتافزيکي فکر د کايناتو ماهيت او د مادي او معنوي نړۍ ترمنځ د اړيکو په شاوخوا راڅرخيږي. د هغه په نظر د خدای (ج) شتون حتمي دی، دا هغه نظريه وه چې وروسته يې د ابن سينا په کاينات پيژندنې باندې اغيز وکړ. فارابي د نړۍ د پيدايښت د تشريح کولو لپاره هغه نظريه تر څيړنې لاندې ونيوه چې د هغه ريښه د نوافلاطوني مکتب پورې تړاو لري. د دې نظريې په اساس خدای (ج) د کايناتو د مبدا او سرچينې په توګه، د عقل څخه راوځي چې په تدريجي ډول ملکوتي قلمروونه يا اسماني جسمونه او په ټوله کې مادي نړۍ رامنځته کوي.

د کايناتو د سلسلې مراتب دغه ليدلوری د ارسطو او نوافلاطوني نظريو ترکيب څرګندوي چې د اسلامي نړۍ ليد سره سم يې پراختيا موندلې ده. چې په پای کې دا د انساني تفکر په برخه کې د

فارابي موندنو او الهي یووالي ته د رسیدو په برخه کې ګټورې تمامې شوې.

د فارابي یو له لویو لاسته راوړنو څخه د هغه سیاسي فلسفه ده چې د نوموړي په اثر المدینة الفضیله (The Virtuous City) کې تشریح شوې ده. په دې مقاله کې نوموړی د افلاطون جمهوریت پر بنسټ د ټولنې ارماني لرلید بیانوي. فارابي داسې استدلال کوي چې د ژوند نهايي موخه د نیکمرغي لاسته راوړل دي چې یوازې په هغه ټولنه کې ترلاسه کیدی شي چې ټولنه صالحه او د هوښیار واکمن لخوا اداره شي.

د المدینة الفضیله اثر کې واکمن د یو فیلسوف پاچا په توګه د منطقي پوهې او اخلاقي فضیلت په یو ځای کولو سره د ټولنې پالنه کوي. فارابي د متوازنې او سوله ییزې ټولنې په رامنځته کولو کې د پوهې او عدالت پر رغنده رول ټینګار کوي او پر هغو ښارونو نیوکه کوي چې ناپوهي او ځان غوښتنه پرې واکمنه وي. د نوموړي سیاسي فلسفې نه یوازې په منځنیو پیړیو کې پر اسلامي حکومتداري اغیز وکړ بلکې د اروپا رنسانس په دوره کې هم د وروستیو متفکرانو په منځ کې د پام او تایید وړ وګرځیده.

د فارابي تخصص د علم او فلسفې سربیره د موسیقي ډګر ته هم غځیږي. د نوموړي مهم اثر د کتاب الموسیقه الکبیر ( The Great Book of Music) په منځنیو پیړیو کې د موسیقي یو له خورا جامع زدکړو څخه ګڼل کیږي. فارابي په دې اثر کې د

موسيقي د همغږي پټ رياضياتي او علمي اصول او د هغې رواني اغيزو موضوع تر څېړنې او ازمايښت لاندې نيسي.

فارابي د روحي او احساساتي زخمونو د تداوي کولو لپاره موسيقي د وسيلې په توګه وپېژندله او د انسان پر چلند او ټولنيز يووالي باندې د هغې د اغېزمنتيا بالقوه ظرفيت يې مالوم او ثابت کړ. د موسيقي نظري او عملي کارونې اساساتو په اړه د نوموړي ژورې پوهې په دې ډګر کې نوموړي ته د مخکښ شخص نوم په ميراث ورپرېښود.

فارابي د موسيقي او فلسفې په برخه کې د برياليتوبونو سربېره په بېلابېلو برخو لکه رياضيات، ستورپېژندنه او طب کې هم د پام وړ علمي خدمتونه ترسره کړي دي. نوموړی د يو واحد چوکاټ د رامنځته کيدو په لټه کې و ترڅو وکولی شي چې تجربوي ليدنو ته د منطقي استدلال سره تړاو ورکړي.

فارابي په خپلو اثارو کې د علومو سلسله مراتب طبقه بندي د ارسطو د نظرې تر اغيز لاندي بيان او تشريح کړه. نوموړي علوم په نظري علومو لکه (متافزيک، رياضيات، طبيعي علوم) او عملي علومو لکه (اخلاق، سياست) باندې وويشل. دې طبقه بندي د پوهانو لپاره د يو لارښود په توګه عمل وکړ او د منځنيو پيړيو اسلامي او اروپايي پوهنتونونو درسي نصاب ته يې نظم وروبخښه.

پر منطقي استدلال او تجربوي ليدنو د فارابي ټينګار د علمي میتودونو په پراختیا کې ګټور تمام شو. نوموړي د منطقي تحلیل سره د ساحوي مالوماتو د یو ځای کولو څخه په دفاع طبیعي فلسفې او تجربوي علومو ته د راتلونکو پرمختګونو لپاره لاره هواره کړه.

د فارابي فکري فعالیتونو په اسلامي او لویدیځ فکر ژور او پراخه اغیز وکړ. د نوموړي لرغوني یوناني فلسفې او اسلامي عقیدې اصولو یو متناسب ترکیب د راتلونکو پیړیو لپاره د اسلامي فلسفې د غوړیدا بنسټ کیښود. د ابن سینا او ابن رشد په څیر مشهور شخصیتونه د هغه له فکر څخه اغیزمن شول او هغه فلسفي نظریې ته یې پراختیا ورکړه چې نوموړي رامنځته کړې وه.

د فارابي اثار د اسلامي فلسفې فکري چوکاټ جوړولو کې ګټور تمام شول. د نوموړي په واسطه د ایمان سره د عقل جوړونه د هغو عالمانو لپاره یوه بیلګه شوه چې د دیني عقیدې او فلسفي څیړنو متقابل تعارض ترمنځ لاس او ګریوان وو. د نوموړي سیاسي او میتافزیکي نظریې په ځانګړې توګه د وروستیو هغو اسلامي متفکرانو د تایید او پاملرنې وړ وګرځیدې چې د فارابي (د انسان ذات او ټولنې پټې وړتیا ته نسبت ورکولو نظریې) ته یې پراختیا ورکړه.

لاتیني ژبې ته د فارابي اثارو د ژباړې له لارې د نوموړي نظریو د منځنیو پیړیو اروپا ته لار وموندله او هلته یې فیلسوفان هر یو

لکه توماس اکویناس او البرتوس مکنس تر اغیز لاندې راغلل. پر ارسطو د نوموړي لیکنو او بیانونو او په میتافزیکي او اخلاقي مسایلو کې هغه ته د پراختیا ورکړه د لویدیځ فکري دودونو بڼایه کیدو لامل شول او د رنسانس په دوره کې یې د کلاسیکې فلسفې ژوندي ساتلو کې مهم رول ترسره کړ.

په معاصر وخت کې د نیکمرغه ټولنې په اړه د فارابي لیدلورى او منطقي پلټنې ته د هغه ژمنتیا لا هم معقول او د منلو وړ دي. د پوهنې او روزنې پر اهمیت، اخلاقي واکمني او په پوهې پسې لټه باندې د نوموړي ټینګار د ټولنیز عدالت، فکري خپلواکۍ او په ټولنیز ژوند د فلسفې رول په اړه د نن ورځې له بحثونو سره سمون خوري.

د فارابي ژوند او اثار د اسلامي زرین دور د فکري پراختیا یوه ښه بیلګه ده. نوموړي د یو فیلسوف، عالم، موسیقي او منطق پوه په توګه د فکري او کلتوري دودونو ترمنځ پل رامنځته کړ او داسې میراث یې پریښود چې د هغه مهال او ځای څخه ډیر پراخه شو. د کایناتو ماهیت، د انسان د ژوند رښتینی هدف او د ټولنې د تنظیم په اړه د نوموړي نظریې لا تر اوسه د ټولو علمي برخو څیړونکو او متفکرانو لپاره الهام بخښونکې دي.

فارابي په اسلامي فکري او معنوي جریانونو کې د لرغونې یوناني پوهې یو ځای کولو له کبله نه یوازې کلاسیکه پوهه خوندي کړه بلکې هغه یې لابڼایه او راتلونکو نسلونو ته یې د لیږد داډ ورکړ. د

نوموړي بریالیتوبونه د کایناتو او په هغه کې زموږ ځای د پوهیدو لپاره د فلسفې بې پایه دریـځ د یوې وسیلې په توګه په ګوته کوي.

سرچینې:

د ۲۱ مې پېړۍ ریفرینس:


١. www.google.com

٢. www.amazon.com

٣. www.wikipedia.com

٤. ChatGPT

٥. www.youtube.com

٦. "The Internet Encyclopaedia of Philosophy

٧. "Major periods of Muslim education and learning". *Encyclopedia Britannica Online*

## کتابونه:

١. Germann, Nadja (Spring ٢٠٢١). "Farabi's Philosophy of Society and Religion"

٢. Menn, Stephen (Winter ٢٠٢١). Farabi's Metaphysics

# دري بنسټيزې پوښتنې

په دې کتاب کې زما هدف دا دی چې تاسې، د افغانستان نوي نسل ته، د اسلامي زرین دور او د دې دور د رامنځته کوونکو شخصیتونو په اړه یو لنډ انځور وړاندې کړم.

اوس ستاسې نوبت دی چې د اسلامي زرین دور مفکورو او د هغه مهال سترو لاسته راوړنو په اړه خپلواکه مطالعه وکړئ.

زه غواړم تاسې له دې درې لاندینیو بنسټیزو پوښتنو سره پرېږدم:

۱. له دغه متفکرانو او د هغوی له لاسته راوړنو سره څه وشول؟

۲. موږ ولې په تیرو ۶ تر ۷ پیړیو کې متفکران، فیلسوفان او نوښتګران نه دي لرلي؟

۳. ولې په لویدیځ کې د اسلامي زرین دور د اتلانو فکرونه او لاسته راوړنې د علمي، سیاسي او صنعتي انقلابونو لپاره الهام بخښونکي شول خو په ختیځ کې نه شول؟

# د ټولنيزو علومو پلار

د ابن خلدون کيسه د داسې يو شخص ژوند بيانوي چې د نورو په پرتله يې د متفاوت فکر کولو جرات وکړ او په پايله کې داسې يو تاريخ پوه، فيلسوف او ټولنپوه وپېژندل شو چې د خپل وخت نه ډېر وړاندې و.

ابن خلدون چې د اسلامي تمدن د پرمختګ په مهال په تونس کې نړۍ ته سترګې غړولې دي، لاسته راوړنې يې د هغه مهال د ظرفيت څخه وړاندې وې او د بشريت په فکري ميراث کې يې تلپاتې اغيز پريښود. د نوموړي يې ساري اثر المقدمه (مقدمه) د بيلابيلو برخو د ودې لپاره زمينه برابره کړه او له همدې امله د "د ټولنپېژندنې، تاريخ ليکنې او اقتصاد پلار" لقب ورکړل شو.

دا مقاله د ابن خلدون (۱۳۳۲ – ۱۴۰۶ زيږديز) د فکري ميراث او د هغه د مبصر کيدو عوامل، د نوموړي د ودې چاپيريال او د هغه د علمي اثارو پيوند له عصري دوران سره څيړي. د ابن خلدون کيسه د تمدنونو د رامنځته کيدو او پرځيدو له نظريې نيولې بيا د انسان چلند او د اقتصاد علم تر نظريې پورې موږ ته په زړه پورې ليدلوری راښيي چې د هغې په وسيله نه يوازې د هغه مهال بلکې د خپل وخت څخه هم خبر شوو.

د ابن خلدون د مقام نمانځلو لپاره لومړی باید په هغه ستونزمن حالت پوه شو چې نوموړي پکې ژوند کاوه. ابن خلدون چې په عرب تبار اندلسي کورنۍ کې زیږېدلی و، په اسلامي نړۍ کې د سیاسي کړکیچونو او فکري ګډوډیو په دوران کې د بلوغ عمر ته ورسید. پخوانۍ ځواکمن عباسي خلافت په کوچنیو حکومتونو ویشل شوی و او مغرب د هغه د زوکړې ځای د حفصیانو، مرینیانو او زیانیانو سلسلو د جګړو ډګر ګرځېدلی و. په ورته وخت کې په اروپا او منځني ختیځ کې وبا ګډه شوه چې ډېر انسانان یې ووژل او ټولنې یې بې ثباته کړې.



په AI د ابن خلدون جوړ شوی انځور

خو برعکس دغه ګډوډیو د ابن خلدون د فکري ودې لپاره زمینه برابره کړه. نوموړی له نږدې څخه د واکمنانو راڅرګندیدو او پرځیدو، د امپراتوریو له منځه تلو او د قدرت، اقتصاد او کلتور ترمنځ د متقابلو اړیکو لیدونکی و، په داسې حال کې چې نړۍ په دوامداره بدلون او تحول کې وه چیرته چې زاړه باورونه له منځه تلل او نوي فکرونه راټوکیدل. دغه تجربو د نوموړي پر لیکنو اغیز وکړ او د هغوی په مرسته یې د تاریخي پیښو په پټو ځاګړتیاو او قوانینو پوهه ترلاسه کړه.

د ابن خلدون تر ټولو مشهور اثر المقدمه د نړۍ عمومي تاریخ د پیژندنې په توګه ولیکل شو. خو د خپل اصالت او ژورتیا له امله د یو خپلواک شاهکار په توګه د درناوي وړ وګرځید. ابن خلدون په المقدمه کې کوښښ وکړ چې د پیښو د روایت څخه وړاندې ولاړ شي. هغه په دې پوه شو چې تاریخ د هغو قوانینو تابع دی چې په انساني غریزه او ټولنیز دینامیسم کې ریښه لري، چې هغه د تمدنونو د رامنځته کیدو او پرځیدو علتونو د کشفولو هڅه هم وکړه.

د ابن خلدون د فلسفې اساس د عصبیت یا ټولنیز یووالي مفهوم دی. هغه استدلال کاوه چې د یو تمدن دوام د هغه د عصبیت په کچې پورې تړلی دی، دا هغه حس او ګډ هدف و چې خلک یو بل ته ژمن کوي. عصبیت چې په پیل کې په قبیلوي ټولنو کې شدید وي قبیلو ته د یووالي داسې ځواک وربخښي چې امپراتورۍ ماتې کړي او له سره یې بنسټ کیږدي. سره له دې چې نوي

رامنځته شوي تمدنونه د ګټې او خوند اخیستو په لټه کې وي، نو د هغوی عصبیت ورځ تر بلې ضعیفه کیږي او فساد ته مخه کوي چې په پایله کې له سقوط سره مخ کیږي.

دا د تاریخ د دوران نظریه په خپل وخت کې انقلاب ګڼل کیده په داسې حال کې چې پخوانیو لیکوالانو به تاریخي پیښې د الهي تقدیر یا د مشهورو اشخاصو د اقداماتو پایله ګڼله. ابن خلدون د سیاسي او ټولنیزو جوړښتونو پر رول ټینګار کاوه. د نوموړي تحلیل د راتلونکو متفکرانو لکه (اسوالد شپنګلر و آرنولد توین بي) اثارو ته زمینه برابره کړه چې د ابن خلدون په څیر یې د تمدنونو راڅرګندیدل او پرځیدل مطالعه کړي.

د المقدمه یو له ارزښتناکو موضوعاتو څخه د اقتصاد بحث دی، ابن خلدون د کار ځواک د ثروت د سرچینې په توګه معرفي کوي او نوموړي دا مفهوم د ادم سمیت د ملتونو ثروت څخه لا څو پیړۍ مخکې وړاندې کړی و. ابن خلدون همدارنګه د مالیاتي نظام، د تولید وړتیا او دولتي عوایدو ترمنځ متقابلې اغیزې مطالعه کړې او داسې استدلال یې وکړ چې د درنې مالیې وضع کول اقتصادي فعالیتونه ځپي او واکمن نظام کمزوری کوي، دا هماغه قاعده ده چې په عصري اقتصادي نظریو کې لکه د لافر منحني کې هم تکرار شوې ده.

ابن خلدون په تاریخ لیکنه کې هم مخکښ و. هغه د تاریخي سرچینو په تحلیل او تجزیې کې په انتقادي فکر ټینګار کاوه.

نوموړي د دې موضوع په تایید سره چې تاریخ لیکونکي ډېری وخت د تعصبونو او ناسمو مالوماتو سره مخ کیږي نو د اسنادو د صحت تضمین او تاریخي لیدنو لپاره یې د څېړنو پیچلې طریقې وړاندې کړې چې له ډلې یې متناقصو خبرونو ته مراجعه او د ویونکو د انګیزو محاسبه وه. د نوموړي دا علمي کړنلارې د هغو پخوانیو غیر انتقادي تاریخ لیکنو پر وړاندې د هغه یو ډول مخالفت ګڼل کیده.

د ابن خلدون ژوند د هغه د فکر په څیر د پاملرنې وړ دی. هغه داسې یو څېړونکی نه و چې د خپلې زمانې د ترخو واقعیتونو څخه ناخبره پاتې شوی وي. نوموړی د عمل سړی و چې د شمالي افریقا د منځنیو پیړیو په خبیث سیاست کې یې هم د کمال په لور حرکت کاوه. هغه په خپل مسلکي ژوند کې د قاضي، دیپلمات او د واکمنانو د سلاکار په توګه دندې ترسره کړې دي او ډېری وخت به یې ځان د درباریانو په فتنو او د واک په سر شخړو کې ښکیل لیده.

په ۱۳۷۵ زیږدیز کال کې ابن خلدون د سیاسي ګډوډیو څخه د خوندي پاتې کیدو لپاره د الجزایر په یوه لیرې پرته کلا کې ځان ګوښه کړ او هلته یې د المقدمه په لیکلو پیل وکړ. د یوازیتوپ دې دورې نوموړي ته دا فرصت ورکړ ترڅو د خپل ژوند د لوړو او ژورو په اړه چې هغه ورسره مخ شوی و ژور فکر وکړي. خو د المقدمه د بشپړیدو څخه وروسته هم د نوموړي ژوند له پېښو څخه ډک پاتې شو، په ۱۳۸۲ زیږدیز کال کې یې مصر ته سفر وکړ

او هلته د مالکي مذاهبو قاضي القضات وټاکل شو. نوموړي وروسته په یو دیپلوماتیک ماموریت کې د بدنام فاتح ګوډ تیمور سره ولیدل او زموږ لپاره یې د دوی د لیدنې یو روښانه راپور پریښود.

په دې ټولو پیښو او تجربو کې ابن خلدون د موجود وضعیت سره د توافق او دوامداره پرمختګ حیرانوونکې وړتیا وښوده. د نوموړي واقعیت ګرایي او انعطاف پذیري نه یوازې د هغه ژوند وژغوره بلکې د انسان او ټولنې د ماهیت په درک کې یې هم بډایه کړ چې هغه دا ټول په خپلو لیکنو کې بیان کړي دي.

د ابن خلدون فکر د خپل وخت څخه پېړۍ پېړۍ وړاندې و او د وخت په تیریدو سره یې اغیز زیات شو. که څه هم د نوموړي هڅې د اسلامي نړۍ په محدوده کې ترسره شوې خو په نولسمه پېړۍ کې د ویلیام مک ګاکین دی اسلین د ژباړې له برکته یې د لویدیځ پاملرنه هم ځانته راواړوله او له هغه مهاله تر اوسه پورې د نوموړي علوم او نظریې په ټولو برخو کې لکه د ټولنپوهنې او اقتصاد څخه نیولې بیا تر سیاسي علومو او تاریخ لیکنې پورې د توجه او پاملرنې وړ ګرځیدلې دي.

په ټولنیز جوړښت او چلند د ابن خلدون ټینګار د دې لامل شو چې نوموړی د ټولنپوهنې د میدان ګټونکی کړي. د امیل دورکیم او ماکس وبر په څیر متفکرانو حتی که د ابن خلدون د اثارو څخه بې خبره هم وي خو د شخص او ټولنې ترمنځ متقابلو اغیزو په

اړه یې د نوموړي ډیری نظرېې تکرار کړې دي. نن ورځ ټولنپوهان د ګروپي دینامیک او ټولنیز یووالي په مطالعه کې د ابن خلدون د عصبیت له مفهوم څخه استفاده کوي.

انسان پېژندونکو هم د ابن خلدون په اثارو کې ارزښتناک مالومات موندل. لکه د کوچیدونکو ګروپونو په اړه د نوموړي لیدنې او په تدریجي ډول په ښار میشتو ټولنو کې د هغوی مدغم کیدل او هغه کلتوري بدلونونه چې دغې پروسې له ځانه سره لرل د اوسني عصري انساني مطالعاتو سره ورته والی لري.

د اقتصاد په علم کې د کار، مالیاتو او تجارت په اړه د ابن خلدون نظریه د دې لامل شوه چې نوموړی د لومړني اقتصاد پوه په توګه په رسمیت وپېژندل شي. نوموړي داسې نظریه درلوده چې د ټولنو پرمختګ او ابادي د دولت مداخلې او د خلکو پانګه اچونې ترمنځ توازن ساتلو پورې اړه لري چې د هغه نظریه تر اوسه پورې د اقتصاد په حوزه کې د منلو وړ ده.

بې له شکه چې په تاریخ لیکنه کې د ابن خلدون لاسته راوړنې د راتلونکو نسلونو تاریخ لیکونکو لپاره الهام بخښونکې وې. په تاریخ لیکنه کې په انتقادي تحلیل د نوموړي ټینګار او له خرافاتو او افسانو څخه ډډه کول هغه انقلاب و چې عصري تاریخي مطالعاتو ته یې لار هواره کړه.

زموږ په دې ورځ تر بلې بدلیدونکې نړۍ کې د ابن خلدون نظرېې په حیرانوونکې توګه لا هم د منلو وړ دي. د نوموړي د تاریخ

دوران نظریه د قدرت بې ثباتۍ او د نظامونو د مستبد کیدو د خطر په اړه خبرتیا ده. ابن خلدون د ټولنیز یووالي پر اهمیت ټینګار او په لویو او څو قطبي ټولنو کې د یووالي ساتلو ستونزې بیانوي. د اقتصاد او حکومتولۍ په اړه د نوموړي ژوره پوهه د هغو سیاستمدارانو لپاره یو ارزښتناک درس دی چې د بې عدالتۍ او د دولت د محدودو وړتیاو په څېر مسایلو سره سر او کار لري.

سربېره پر دې د ابن خلدون فکري تواضع او انتقادي څېړنې ته د نوموړي ژمنتیا هم په ټولو برخو کې د څېړونکو او متفکرانو لپاره یوه بیلګه ده. په هغه زمانه کې چې د نړۍ په اړه موږ ناسم او له کرکې ډک مالومات ترلاسه کوو نو د بیلګې په توګه د نوموړي یادول موږ ته د پخوانیو فکرونو څخه مخ اړول او د حقیقت په اړه پلټنې باندې باور څرګندوي.

ابن خلدون نه یوازې د خپل وخت پېژندل شوی شخص و بلکې د هر عصر مشهور شخص و. که څه هم نوموړي د اسلامي نړۍ په کلتوري او فکري دودونو کې ریښه درلوده خو له هغه څخه پې وړاندې فکر وکړ او د اثارو داسې ټولګه یې رامنځته کړه چې ټول د بشر د اندیښنو څخه بحث کوي. د نوموړي المقدمه یوازې یو تاریخي اثر نه دی بلکې زموږ د ژوند او ټولنې جوړوونکو عواملو او ځواکونو په اړه یوه نه ختمیدونکې څېړنه هم ده.

د ابن خلدون د ژوند مطالعه موږ ته د یوه ستر متفکر د تجلیل سره سره د نورو مهمو مسایلو لارښوونه هم کوي. چې له برکته

يې موږ د تاريخ په روايت کې د خپل ځان او ځای په اړه ژور پوهاوی ترلاسه کوو. د نوموړي د ژوند طريقه او فکر موږ ته بلنه راکوي ترڅو لا ډېر انتقادي فکر وکړو، هوښيار ژوند وکړو او داسې ټولنې رامنځته کړو چې ثبات ولري.

د ابن خلدون د مړينې څخه ۷ پېړی وروسته هم هغه نه يوازې په تير وخت پورې تړلی شخص و بلکې د راتلونکي لپاره هم لارښود پاتې شوی دی.

سرچينې:

د ۲۱مې پېړی ريفرينس:


۱. [www.google.com](http://www.google.com)

۲. [www.amazon.com](http://www.amazon.com)

۳. [www.wikipedia.com](http://www.wikipedia.com)

٤. ChatGPT

٥. [www.youtube.com](http://www.youtube.com)

٦. **<u>"The Internet Encyclopaedia of Philosophy</u>**

٧. **<u>"Major periods of Muslim education and learning"</u>. *Encyclopedia Britannica Online***

**کتابونه:**

١. **Farid Alatas, Syed (٢٠١٥). *<u>Applying Ibn Khaldūn: The Recovery of a Lost Tradition in Sociology</u>*. Routledge**
٢. **Ali Zaidi, *Islam, Modernity, and the Human Sciences*, Springer, ٢٠١١**

# د عربي فلسفې پلار

ابو یوسف یعقوب ابن اسحاق الکندي (۸۰۱ – ۸۷۳ زیږدیز) چې عموما د الکندي په نوم یادیږي د اسلامي زرین دور یو له اغیزناکو فیلسوفانو څخه دی او په تاریخي اثارو کې ځانګړی ځای لري. لکه څرنګه چې نوموړی د عربي نړۍ لومړنی مشهور فیلسوف و نو ځکه یې "د عربي فلسفې پلار " لقب ترلاسه کړ.

الکندي په بیلابیلو برخو کې علمي خدمتونه ترسره کړي چې له ډلې یې فلسفه، ریاضیات، ستورپوهنه، طب، کیمیا او موسیقي یادولی شو چې په پایله کې یې نوموړی په رښتینې مانا په یو "علامه" بدل کړ. الکندي په اسلامي اعتقادي نظام کې د لرغونې یوناني فلسفې په مدغم کولو سره د هغو فکري دودونو بنسټونه کیښودل چې د پیړیو پیړیو لپاره په اسلامي نړۍ کې د غوړیدا په حال کې وو.

الکندي د ۸۰۱ زیږدیز کال په شاوخوا کې چې د عباسیانو د خلافت وخت و د اوسني عراق په کوفې ښار کې نړۍ ته سترګې وغړولې چې هغه مهال یې د علمي او فرهنګي پرمختګونو له امله شهرت موندلی و. د نوموړي کورنۍ د کیندا له قبیلې څخه وه چې د عربستان په جنوب پورې تړلې وه. لکه څرنګه چې کوفه د هغه مهال مهم کلتوري او تعلیمي مرکز و نو ځکه یې بیلابیلو فکري دودونو ته د الکندي لاسرسی اسانه کړ.

الکندي بیا بغداد ته چې د اسلامي زرین دور د ثقل مرکز و سفر وکړ او هلته یې د بیت الحکمه (House of Wisdom) غړیتوب ترلاسه کړ. بیت الحکمه هغه ویاړلې موسسه وه چې د عباسي خلیفه ګانو لخوا د یوناني، ایراني، هندي او نورو ارزښتمنو اثارو د ژباړې او تحقیق په موخه رامنځته شوې وه. له همدې ځایه الکندي خپلې هڅې پیل کړې ترڅو یوناني فلسفه له اسلامي فکر سره ورته کړي، دا هغه ماموریت و چې د نوموړي فکري میراث ته یې هویت وروباښه.



په AI د الکندي جوړ شوی انځور

د الکندي ستره لاسته راوړنه دا وه چې اسلامي نړۍ يې له يوناني فلسفې سره اشنا کړه. نوموړی د ارسطو، افلاطون او نورو يوناني متفکرانو تر ژور اغيز لاندې راغلی و. خو هغه يوازې د هغوی د اثارو په ژباړې او تفسير بسنه ونکړه بلکې کوښښ يې وکړ چې د سترو يوناني فيلسوفانو نظرېې د اسلامي اعتقادي نظام په چوکاټ کې اصلاح او تعديل کړي.

الکندي باور درلود چې دين او فلسفه نه يوازې چې تضاد نلري بلکې د حقيقت موندلو په لار کې د يو او بل بشپړوونکي دي. د نوموړي په باور د الهي نظام پوهيدو لپاره فلسفه عقلي وسيلې او دين معنوي لارښوونې انسان ته وړاندې کوي. دا ترکيب د نوموړي لومړنۍ فلسفې (فی الفلسفة الاولی) په رساله کې درک کيدی شي. له هغه ځايه چې نوموړی استدلال کوي چې عقل او وحي دواړه د خدای (ج) له لوري دي نو له همدې امله د يو او بل پر خلاف نشي واقع کيدی.

د الکندي يو له مهمو خدمتونو څخه په اسلامي ټولنه کې د فلسفې په وړاندې د هغې له مخالفينو څخه دفاع وه. ځينې عالمانو او فقهاو به فلسفه داسې معرفي کوله چې ګواکې دا له بهر څخه وارد شوې او د اسلام د دين خلاف پديده ده. الکندي په دې ټينګار سره چې فلسفه د حکمت د لټون يوه نړيواله هڅه ده چې کولی شي د الهي مسايلو په اړه د انسان پوهه زياته کړي او له دې ادعا سره سيالۍ ته راووت.

په میتافزیک کې د الکندي علمي هڅې د کایناتو پر ماهیت، د علت او معلول اړیکه او د خدای (ج) په شتون متمرکزې وې. نوموړي د ارسطو "لومړی علت" مفهوم ومانه او وې کاراوه ترڅو د یوه واحد، ازلي او ضروري موجود خدای (ج) پر شتون استدلال وکړي. په هر حال الکندي د ارسطو پر خلاف د نړۍ د پیدا کوونکي په توګه د خدای (ج) په ستر رول ټینګار درلود چې خپلې میتافزیکي نظرېې د اسلام اعتقادي نظام سره همغږې کړې.

الکندي همدارنګه د روح ماهیت په اړه مطالعه ترسره کړه او د هغه په ابدیت او د خدای (ج) سره د اړیکې په اړه یې ټینګار وکړ. نوموړي باور درلود چې د روح وروستی هدف د خدای (ج) پیژندنه ده دا هغه سفر دی چې عقلي او اخلاقي روزنې ته اړتیا لري.

الکندي په معرفت پیژندنه کې د بیلابیلو معرفتونو لکه حسي درک، عقلي فکر او الهي وحې ترمنځ توپیر وکړ. نوموړي استدلال کاوه چې د انسان عقل په عین حال کې چې ځواکمن دی بیا هم کمزورتیاوې لري چې باید په الهي هدایت سره جبران شي. د معرفت په اړه دغه سلسله مراتبي نظر د الکندي هڅې اسلامي معنویت د یوناني عقل پالنې سره د یو ځای کولو لپاره جدي کړې.

الکندي د فلسفې سربېره نورو بيلابيلو علمي برخو ته هم د پام وړ خدمتونه ترسره کړل. د نوموړي ډېرى فعاليتونه د رياضي د اصولو څخه په ګټه اخيستنې سره د مسايلو حل و چې د نوموړي هر اړخيزه تګلاره څرګندوي.

د رياضياتو په برخه کې د الکندي خدمتونه د محاسبې علم، هندسې او اعدادو نظريې په اړه مطالعه او څېړنه وه. د نوموړي نوم به په تاريخ کې په ځانګړي ډول د رمز ليکلو په برخه کې د مخکښتوب له امله ژوندى پاتې شي. نوموړى د رمزي پيغامونو کشف (رسالة فى استخراج المعمّى) رساله کې د فريکونسي تحليل معرفي کړ چې په متن کې د حرفونو فريکونسي تحليل سره د رمزونو خلاصولو طريقه وه. دې تخنيک د عصري رمز ليکلو بنسټ کيښود او تر اوسه د معاصرو مالوماتو څخه د ساتنې په برخه کې د ارزښت وړ دى.

د الکندي زحمتونه په ستورپېژندنې او نورپېژندنې کې هم په همدې اندازه اغېزناک وو. نوموړي د اسماني جسمونو حرکت، د وخت اندازه کول او د کايناتو جوړښت په اړه پراخه مالومات وليکل. الکندي په نورپېژندنې کې د اقليدس او بطليموس د نظريو پر بنسټ د رڼا او ليدلو ماهيت په اړه مطالعه او څېړنې ترسره کړې. نوموړى د نور وړانګو (De Aspectibus) رساله کې د انسان د سترګو او شيانو سره د نور د تعامل څرنګوالى تر څېړنې لاندې نيسي چې په حقيقت کې په دې برخه کې د راتلونکو پرمختګونو وړاندوينه يې هم کړې ده.

الکندي د طب په برخه کې د بیلابیلو موضوعاتو په اړه له اناتومي څخه نیولې بیا تر فارمکولوژي پورې مقالې ولیکلې. نوموړي د نباتاتو او نورو طبیعي موادو د درملنې خواصو سره ځانګړې لیوالتیا درلوده او له هغوی څخه د ګټې اخیستنې لپاره یې مفصل لاربښود کتاب ولیکه. الکندي همدارنګه په طب کې د ریاضیاتو پر اهمیت ټینګار وکړ او د دواګانو په جوړولو او ترکیب کې د دقیقو محاسبو غوښتونکی شو.

الکندي که څه هم د کیمیاګري سره سر او کار درلود خو د هغې په خیالي اړخونو یې نیوکه کوله. نوموړي د کیمیا فن ابطال (رسالة فی ابطال الکیمیا) په رساله کې په علمي څیړنو کې پر تجربوي لیدنو او منطقي استدلال ټینګار سره د سرو زرو پر اساس د فلزاتو بدلولو مخالف و.

الکندي د موسیقي نظرئې په برخه کې هم د پام وړ شخصیت و. نوموړي د موسیقي مقیاسونو ریاضیاتي اصول مطالعه کړل او د انساني عواطفو او موسیقي ترمنځ اړیکه یې وڅیړله. د موسیقي د درملنې اغیزو په اړه د نوموړي نظریه د نن ورځې د موسیقي درملنې کړنلارو سره ورته وړاندوینه وه. الکندي د غږ فزیکي خواص او د موسیقي الاتو جوړښت په تحلیل سره په اسلامي نړۍ کې د موسیقي نظرئې اساسات بڼایه کړل.

د الکندي اغیزه د هغه د ژوند له دوران څخه ډیره پراخه وه. نوموړي د ژباړې د غورځنګ مخکښ شخص په توګه اسلامي

نړۍ ته د یوناني فلسفې او علمي پوهې په لېږد او ساتنه کې برخلیک ټاکونکی رول درلود. وروسته نورو مسلمانو فیلسوفانو لکه فارابي، ابن سینا او ابن رشد د نوموړي اثارو پر بنسټ فلسفه مطالعه کړه او وده یې ورکړه. سربېره پردې د نوموړي لخوا د عقل او ایمان یو ځای کول په اسلامي او مسیحي نړۍ کې د راتلونکو متفکرانو لپاره الهام بخښونکې شوه.

د منځنیو پېړیو په جریان کې د الکندي ډېری اثار لاتیني ژبې ته وژباړل شول او په اروپا کې یې د رنسانس راښکاره کیدل اسانه کړل. د نوموړي نظریو د منځنیو پېړیو پوهان لکه توماس اکویناس دومره تر اغیز لاندې راوستل چې ټول د اسلامي فلسفې سره همغږي شول ترڅو د هغه په واسطه وکولی شي چې د مسیحیت په اعتقادي نظام کې هم عقل له ایمان سره یو ځای کړي.

په معاصرو بحثونو کې د الکندي ټینګار پر فکري کنجکاوي او د عقل او ایمان ترمنځ توافق لا هم د منلو وړ دی. د بیلګې په توګه په رمز لیکلو کې د نوموړي مخکښتوب د علمي نوښتونو په دایمي اهمیت ټینګار کوي او همدارنګه د انتقادي فکر او تجربوي لیدنو څخه د نوموړي دفاع د عصري علمي میتودونو سره مطابقت کوي.

د الکندي ژوند او کار د اسلامي زرین دور د بډایه فکري مېراث یوه بیلګه ده. نوموړی د یو فیلسوف، عالم او علامه په توګه د

بیلابیلو کلتوري او فکري دودونو ترمنځ پل جوړ کړ او داسې متناسب ترکیب یې رامنځته کړ چې تر اوسه پورې د نړۍ متفکرانو ته الهام بخښونکی دی. د فلسفې، علم او هنر په اړه د نوموړي خدمتونو په بیلابیلو برخو کې د راتلونکو پرمختکونو لپاره لاره هواره کړه. الکندي د عقل او ایمان یو ځای کولو ښخه په دفاع کې د علم او معرفت د بدلون ځواک ثبوت کړ او داسې میراث یې پریښود چې د هغه مهال او وخت ښخه ډیر پراخه و.

سرچیني:

د ۲۱ مې پېړۍ ریفرینس:


١. www.google.com

٢. www.amazon.com

٣. www.wikipedia.com

٤. ChatGPT

٥. www.youtube.com

٦. **"The Internet Encyclopaedia of Philosophy**

٧. **"Major periods of Muslim education and learning". *Encyclopedia Britannica Online***

**کتابونە:**

١. **Abboud, Tony (٢٠٠٦). *Al-Kindi: the father of Arab philosophy*. Rosen.**

٢. **Nasr, Seyyed Hossein (٢٠٠٦). *Islamic philosophy from its origin to the present: philosophy in the land of prophecy*. State University of New York**

# تبصره

اوسنۍ پرمختللې نړۍ د څلورم صنعتي انقلاب په درشل کې ده. دا دوره د انسان د ژوند په ټولو برخو کې د بدلون زيری ورکوي او له ځان سره داسې پرمختګونه راوړي چې اړيکې پياوړې کوي، صنعتونه بيا رغوي او په هر اړخيزه توګه د بشري ټولنو د ژوند په کيفيت کې ښه والی رامنځته کوي.

هر څومره چې د دې علمي تحولاتو د تاريخي سوابقو په اړه پلټنه وکړو، هغومره به پوه شو چې د اسلامي تمدن معمارانو او متفکرانو د دې حيرانوونکو پرمختګونو په رامنځته کولو کې څومره برخليک ټاکونکی رول لوبولی دی. د هغوی د شپو ورځو څېړنو او هڅو ډېری ټکنالوژيو او د عصري علمي اصولو لپاره بنسټ کېښود چې موږ يې نن ورځ کاروو.

اسلامي زرين دور د ستاينې وړ ګڼ شمير اتلان لري خو ما يوازې له هغوی څخه ۱۱ شخصيتونه په دې کتاب کې ټاکلي دي. دا د درناوي وړ شخصيتونه چې په نړۍ يې تلپاتې اغيز پرېښود، هر يو له دوی څخه يې د عقلانيت او نوښت ځانګړې نمونه ده چې په هغه مهال کې يې د راڅرګنديدو چانس ترلاسه کړی.

هيله من يم چې دا کتاب به زما د ځوانو لوستونکو په فکري بدلون کې چټکتيا او اسانتيا راولي. غواړم چې تاسې د افغانستان

ځوانان په خپلواکه توګه د اسلامي زرين دور بډايه تاريخ مطالعه کړئ او د خپلو بې شميره اتلانو په کيسو پوه شئ چې نړۍ د هغوی د نظريو او نوښتونو پوروړې ده. ډاډه يم چې د اسلامي زرين دور او د هغې ستر علمي ميراث په اړه به ستاسې پلټنه زموږ بحران-ځپلي هيواد کې د پرمختګونو او هوساينې سرچينه شي.

# د درمل پېژندنې پلار

البیطار چې د "فارمکولوژي پلار" په نامه هم یادېږي د طبابت او درمل پېژندنې په تاریخ کې د اسلامي زرین دور یو پېژندل شوی شخص ګڼل کیږي. د درمل جوړونې، نبات پېژندنې او طبابت په برخه کې د نوموړي خدمتونو او لاسته راوړنو په اسلامي او لویدیځ طب تلپاتې اغیز پریښی دی.

په نننۍ نړۍ کې چې موږ پکې ژوند کوو د البیطار په رغنده رول باندې د پوهیدو لپاره د دې سناریو په اړه تصور وکړئ.

په پخواني دوران کې یا د ۱۵۰۰ څخه تر ۲۸۰۰ کاله پخوا انسانانو ۱۰۰۰ ډوله درمل کشف او جوړ کړي وو. په اسلامي زرین دور کې مسلمانو پوهانو نږدې ۴۰۰ ډوله نوي درمل اختراع کړل خو دا بیا د البیطار هڅې وې چې په منظم ډول یې دا ۴۰۰ ډوله نوي ترکیبي درمل چمتو او د هماغه ۱۰۰۰ ډوله پېژندل شویو پخوانیو درملو فهرست ته ورزیات کړل.

البیطار په خپل پېژندل شوي اثر "د ساده درملو جامع کتاب" (The Comprehensive Book on Simple Medicaments) کې دا ستره لاسته راوړنه په تاریخ کې ثبت کړه. دا کتاب چې د دوا پېژندنې په تاریخ کې یو له مهمو متنونو څخه دی د ۱۴۰۰ څخه ډېرو شفا ورکوونکو درملیزو موادو په اړه مفصل توضیحات وړاندې کوي چې نباتات، حیوانات او

معدني مواد پکې شامل دي او همدارنګه د هغوی خاصیتونه، د ګټې اخیستنې موارد او د هغوی ترکیب او چمتو کولو لارې چارې یې هم تشریح کړې دي.

البیطار دا درملیز مواد د الفبا حروفو ترتیب په اساس تشریح کړل ترڅو طبیبانو ته د هر یوه په اړه د مالوماتو ترلاسه کول اسانه کړي. نوموړي ډېرې وخت د درملیزو موادو د ترکیب او چمتو کولو لارو چارو، د استعمال مقدار او احتمالي جانبي اغیزو په اړه عملي لارښوونې هم وړاندې کولې چې د هغه مهال له معیارونو څخه ډېرې لوړې وې.



په AI د البیطار جوړ شوی انځور

البیطار د خپلو تجربوي کړنلارو له امله د هغه مهال په ډېرو عالمانو غوره والی درلود، هغه په پخوانیو سرچینو د بشپړ باور کولو په ځای خپلواکه څېړنو او ازمايښتونو ته مخه کړه. د نوموړي ګڼ شمېر سفرونو هغه ته دا زمینه برابره کړه ترڅو د بیلابیلو کلتورونو او سیمو څخه مالومات راټول کړي او خپله علمي پانګه لا بډایه کړي.

دا تجربوي کړنلاره چې په لیدنې، ازموینې او اسنادو ولاړه وه د علمي میتود مقدماتو ته يې لاره هواره کړه. د نوموړي فعالیتونو نورو پوهانو ته دا جرات ورکړ چې د اټکل او ګمان په ځای د خپلواکه څېړنو له لارې علم او پوهه ترلاسه کړي.

البیطار چې بشپړ نوم يې ابومحمد عبدالله ابن احمد البیطار الملکي الدمشقي و په ۱۱۹۷ زیږدیز کال کې يې د هسپانیې په مالاګای سیمه کې نړۍ ته سترګې غړولې دي. نوموړی چې له یوې باسواده کورنۍ څخه و نو په بیلابیلو برخو لکه طبابت، نبات پیژندنه او طبیعي علومو کې يې لوړې زدکړې ترلاسه کړې. په علمي چاپیریال کې د نوموړي روزنه د دې لامل شوه چې د طبیعت په اړه د نوموړي کنجکاوي او لیوالتیا ډېره شي.

د البیطار علم او پوهه په ژوره توګه د اسلامي بډایه تمدن په ځانګړې توګه د طب او طبیعي علومو څخه اغیزمنه وه. نوموړي د مشهورو پوهانو تر نظر لاندې زدکړې ترلاسه کړې او د یوناني

او رومي طبيبانو او همدارنګه د پخوانيو مسلمانو پوهانو لکه ابن سينا او الرازي له اثارو څخه يې ګټوره پوهه ترلاسه کړه.

البيطار د مديترانې سيمې بيلابيلو برخو ته لکه د هسپانيې ځينې برخې، د افريقا شمال او منځني ختيځ ته ګڼ شمير سفرونه وکړل ترڅو د نباتاتو مختلف ډولونه راټول کړي او د هغوی درمليز خواص وڅيړي. دغه شخصي تجربو نوموړي ته دا جرات ورکړ ترڅو د ځينې پيژندل شويو درمليزو دواګانو په اړه پخوانۍ نظريې تر پوښتنې لاندې راولي او د دقيقو ليدنو پر اساس نوې پنځونې رامنځته کړي.

د البيطار کړنلاره په هغه مهال کې انقلابي حرکت ګڼل کيده. نوموړی په لرغونو متنونو باندې د مطلق باور کولو په ځای د طبابت په برخه کې د علمي چلند غوښتونکی شو. هغه د نباتاتو او بيلابيلو ترکيباتو شفا ورکوونکې اغيزې د اسنادو په وړاندې کولو سره ثابتې کړې او د دواګانو په استعمال مقدار او ترکيب باندې يې ټينګار درلود. دې تګلارې د عصري فارمکولوژۍ بنسټ کيښود او داسې اصول يې رامنځته کړل چې تر اوسه پورې د طبابت په علم کې د تاييد وړ دي.

د البيطار خدمتونه او لاسته راوړنې د دوا پيژندنې سربيره د طب ټول قلمرو ته وغځيدې. د نوموړي علمي هڅې د اسلامي نړۍ طبيبانو ته يو جامع لارښود وګرځيد او د پيړيو پيړيو لپاره يې طبي فعاليتونو ته لارښوونه وکړه. نوموړی د هغه لومړنيو کسانو له

ډلې څخه و چې طبي بوټي يې د هغوی د درمليزو ځانګړتياو په اساس طبقه بندي کړل چې دا چاره د نباتي طب په برخه کې د منظمو کړنلارو د پرمختګ لپاره ډېره ګټوره واقع شوه.

البيطار د اسلامي نړۍ د جغرافيې سريره په اروپا هم اغيز درلود په ځانګړي ډول د رنسانس په دوره کې چې څېړونکو د نوموړي اثار لاتيني او نورو ژبو ته وژباړل. د نوموړي تاليفاتو د لرغونې پوهې او نويو علمي اکتشافاتو ترمنځ د يو پل حيثيت درلود چې د اسلامي نړۍ او لويديځ ترمنځ يې د نظريو تبادله اسانه کړه. د نوموړي اغيزه د اروپايي نبات پېژندونکو او درمل پېژندونکو په اثارو چې ټولو د هغه له علمي کشفياتو څخه ګټه اخيستې وه په بشپړه توګه څرګنده وه.

د البيطار ميراث په علم او طبابت کې د ستايلو وړ دی. د نوموړي کړنلاره چې په درمل پېژندنه او نبات پېژندنه کې د څېړنې او تجربوي ليدنو په اهميت يې ټينګار درلود، د شفا ورکوونکو موادو پېژندلو په ډګر کې د بدلون پيل و همدارنګه تاريخ ليکونکي او څېړونکي د نوموړي فعاليتونه د عصري علم په پرمختګ کې برخليک ټاکونکې مرحله ګڼي.

البيطار د اسنادو او شواهدو په وړاندې کولو سره نه يوازې د درملو ځانګړتياوې ثابتې کړې بلکې د نباتاتو د طبقه بندي په برخه کې يې هم مهم رول درلود. نوموړي د بيلابيلو نباتاتو ډولونه وپېژندل او تشريح يې کړل چې ځينې يې په اسلامي نړۍ کې

لا پیژندل شوي نه وو. د نوموړي د طبقه بندي میتود د راتلونکي دور نبات پیژندنې مطالعاتو بنسټ کیښود.

البیطار د معالجوي اغیزو په اساس د نباتاتو طبقه بندي کولو سره داسې نظام رامنځته کړ چې تر پیړیو وروسته هم د نباتي طبابت په برخه کې واکمن و. نوموړي د نباتاتو د ودې چاپیریال، ظاهري بڼې او له هغو څخه د درملو چمتو کولو په اړه کره مالومات وړاندې کړل چې د ټولو نبات پیژندونکو او عطارانو لپاره ضروري وو.

په معاصر دوران کې د البیطار خدمتونو او لاسته راوړنو ته په بیلابیلو ډولونو درناوی کیږي. هغه موسسې او سازمانونه چې د نبات پیژندنې او فارمکولوژۍ مطالعاتو په موخه رامنځته شوي ډیری یې د نوموړي اثارو ته د کره سرچینو په توګه لومړیتوب ورکوي. د هغه نوم په بیلابیلو ډولونو له نباتاتو سره تړاو لري چې د نبات پیژندنې په برخه کې تلپاتې اغیز څرګندوي.

له بلې خوا د البیطار کیسه موږ ته د اسلامي زرین دور بډایه میراث رایادوي. د نوموړي فعالیتونه د علمي زړورتیا او نوښت یوه بیلګه ده چې دې عصر ته یې عظمت وروبخښه او د علومو په پرمختګ کې یې د مختلفو رشتو ترمنځ د همکارۍ اهمیت ثابت کړ.

د البیطار خدمتونو او لاسته راوړنو د دوا پیژندنې، نبات پیژندنې او طبابت په برخه کې نه هېریدونکې اغیزې پریښې دي. په

تجربوي ليدنو د نومورې ټينګار، د طبي نباتاتو منظمه طبقه بندي او په پخوانيو متنونو د باور نه کولو له امله يې په يوازې توګه په طبابت کې عصري علمي ميتودونو ته لار هواره کړه.

د البيطار د ميراث په اړه غور کولو سره موږ بايد د پخوا څخه ډير په ټولو کلتورونو کې د داخلي پوهې د يووالي او د مختلفو ټولنو څخه د پوهانو لاسته راوړنو ساتلو او نمانځلو په اهميت پوه شو. د البيطار علمي هڅې نه يوازې د تير په اړه زموږ پوهه پياوړې کوي بلکې د راتلونکو نسلونو پوهانو او د طب برخي متخصصانو ته انګيزه ورکوي ترڅو علم او پوهه په دقيق او جدي ډول سره تعقيب کړي.

سرچينې:

د ۲۱ مې پېړی ريفرينس:


١. www.google.com

٢. www.amazon.com

٣. www.wikipedia.com

٤. **ChatGPT**

٥. **www.youtube.com**

٦. **"The Internet Encyclopaedia of Philosophy**

٧. **"Major periods of Muslim education and learning". *Encyclopedia Britannica Online***

**کتابونه:**

١. **Peter Watson (٢٠٠٦). *Ideas: A History of Thought and Invention, from Fire to Freud* (illustrated, annotated ed.). HarperCollins**

# د لید او رڼا پوهنې پلار

ابن الهیثم چې په لویدیځه نړۍ کې د "الحازن" په نوم پیژندل کیږي، یو عرب نوښتګر عالم و، چې د لید پوهنې، رڼا پوهنې، ریاضیاتو او ستور پوهنې په برخو کې د نوموړي فعالیتونو د علم په پرمختګ کې لوی اغیز لرلی دی.

نوموړی د ۹۶۵ زیږدیز کال په شاوخوا کې د اوسني عراق د بصرې په ښار کې زیږیدلی و، او د اسلامي زرین دور د فکري کنجکاوي او کلتوري پرمختګ په حیرانوونکي دوران کې راځرګند شو.

د ابن الهیثم لاسته راوړنو هغه ته  "د لید او رڼا پوهنې پلار" لقب ورکړ او د هغه څیړنیزو میتودونو، عصري علمي میتود ته لاره هواره کړه.

ابن الهیثم په یوه علمي کورنۍ کې زیږیدلی دی چې د خپلو ماشومانو لومړنۍ علاقې یې علومو او ریاضیاتو ته هڅولې. د نوموړي زدکړې بډایه او متنوع وې چې نه یوازې طبیعي علوم بلکې فلسفه او الهیات هم پکې شامل وو. نوموړی بیا قاهرې ته چې د مصر پایتخت دی، کډه شو چیرته چې د پوهانو او متفکرانو د اوسیدو ځای و. قاهرې ته تلل د نوموړي لپاره یو برخلیک ټاکونکی سفر و، ځکه هلته یې د خپلو مطالعاتو په ځانګړې توګه د رڼا پوهنې په برخه کې ژوره څیړنه پیل کړه.

ابن الهیثم د خپلو حرفوي فعالیتونو په لومړیو کې په بیلابیلو پروژو کار پیل کړ چې یو له هغوی څخه یې د نیل پر سیند د بند جوړولو طرحه وه. خو د هغه لوړو نظرونو سیاسي جنجالونه راوپارول چې په پایله کې هغه بندي شو. د بند په دوران کې هغه ټول پام خپل ځان ته واړاوه او ژوند یې د لیدنو او علمي تجربو لپاره ځانګړی کړ. دا بدلون علمي نړۍ ته د هغه د تر ټولو مهمو خدمتونو پیل و.



په AI د ابن الهیثم جوړ شوی انځور

د ابن الهیثم د کار اوج د هغه په نه هېریدونکې رساله کې چې "کتاب المناظر" (د رڼا پوهنې کتاب) نومیږي او د ۱۰۲۱ زیږدیز کال په شاوخوا کې لیکل شوی، ځای پر ځای شوي دي. دا اووه جلدي اثر د علمي تاریخ یو له اغیزناکو متونو څخه ګڼل کیږي. نوموړي په دې کتاب کې په منظم ډول د رڼا ماهیت، لید، د عدسیو او د هندارو ځانګړتیاوې څېړلې دي.

د ابن الهیثم یو له سترو لاسته راوړنو څخه د لید انقلابي نظریه وه. له هغه وړاندې داسې باور کیده چې لید هغه مهال رامنځته کیږي، کله چې د سترګو له لوري خپره شوې رڼا له شیانو سره تعامل وکړي. خو نوموړي دا ناسم تصور رد کړ او ثابته یې کړه چې لید د هغو رڼا وړانګو د انعکاس پایله ده، چې له اجسامو څخه سترګو ته رسیږي. دا د انسان د خپل چاپیریال د درک او لیدلو په برخه کې یو ستر پرمختګ و.

د ابن الهیثم د رڼا په اړه تجربو هغه د سوري لرونکي کامرې د علمي قاعدې کشف په لور هدایت کړ چې د کامرې لومړنی شکل ګڼل کیږي. هغه د دې په ښودلو سره چې څنګه رڼا په مستقیمو کرښو کې حرکت کوي او څنګه انځور د یو کوچني سوري له لارې څرګندیږي، د رڼا فزیک او عکاسۍ په صنعت کې یې د راتلونکو پرمختګونو لپاره زمینه برابره کړه. د سوري لرونکي کامرې تشریحات نه یوازې د رڼا او سیوري قوانین روښانه کوي، بلکې یوه عملي وسیله هم وړاندې کوي چې د پیړیو راهیسې د پام وړ ګرځیدلې او ستایل شوې ده.

هغه څه چې ابن الهیثم ته د هغه مهال پر نورو عالمانو غوره والی ورکوي، لیدنو او تجربوي ازمایښتونو ته د هغه بې قید او شرطه ژمنتیا ده. هغه باور درلود چې پوهه باید د مستقیمې تجربې څخه ترلاسه شي نه د تیرو متنونو د اعتبار څخه. دا تجربوي کړنلاره د دې ښکارندويي کوي چې نوموړی د هغه مهال د فلسفي دودونو څخه منصرف شوی و چې اکثرا یې په قیاس او ګومان تکیه کوله.

ابن الهیثم په "رڼا پوهنې کتاب" کې خپلې تجربې او پایلې په دقت سره مستندې کړې او د موندنو د تکرار په اهمیت یې ټینګار وکړ. د نوموړي منظمه میتودولوژي کې دقیق کنټرول شوي ازمایښتونه، تجربوي لیدنې او د نظرونو د روښانه کولو لپاره د انځورونو کارول شامل وو. دغه سخت ګیرانه چلند د هغه علمي کړنلارې وړاندوینه وه چې وروسته د ګالیله او نیوټن په اثارو کې یې رسمي بڼه موندله.

یو له هغو په زړه پورې تجربو څخه چې ابن الهیثم ترسره کړه، د رڼا د انکسار (ماتیدو) مطالعه وه، او دا یې وځیړله چې څنګه رڼا د بیلابیلو محیطونو له تیریدو سره ماتیږي. نوموړي دا طبیعي پدیده د منشورونو او اوبو په کارولو سره وښوده او تشریح یې کړه چې ولې کله چې شیانو ته د اوبو د یوې پیالې له لارې وکتل شي خپله بڼه بدلوي، په دې برخه کې د هغه کار نه یوازې د رڼا په پوهنه کې پرمختګ راوست بلکې د هندسې برخې ته یې هم

ګټه ورسوله، څکه چې هغه د دې نوري پدیدو د توضیح لپاره ریاضیکي ماډلونو ته وده ورکړه.

ابن الهیثم د لید او رڼا پوهنې په برخه کې د خپلو نوښتونو سربیره په ریاضیاتو او ستورپوهنې کې هم ارزښتناکه لاسته راوړنې درلودې. په هندسه کې د هغه مطالعات د مخروطونو مقاطعو او د سهموي هندارو ځانګړتیاو څېړنه شامله وه. د ریاضیاتو په ډګر کې د نوموړي کار بنسټیز و او د اسلامي نړۍ او اروپا په راتلونکو پوهانو یې اغیز وکړ.

د ابن الهیثم زحمتونه او خدمتونه د نورو برخو په څیر په ستورپوهنه کې هم د پام وړ دي. نوموړي د ستورپوهنې د مشاهداتو او محاسبو د دقت لوړولو لپاره د بطلیموس سیستم چې د پیړیو پیړیو راهیسې په علمي ټولنو واکمن و، تر جدي پوښتنو او نیوکو لاندې راوست. نوموړي د اسماني اجرامو لیدنې وکړې او هڅه یې وکړه چې د هغوی د حرکتونو په اړه کره محاسبې وړاندې کړي. په دې برخه کې د ابن الهیثم کارونو د راتلونکو ستورپوهانو لکه کوپرنیک او تیکو براهه لپاره لار هواره کړه چې د ده له موندنو څخه یې ګټه اخیستله.

د ابن الهیثم میراث له مانا ډک او هر اړخیز دی. په منځنیو پیړیو کې د نوموړي لیکنې لاتیني او نورو ژبو ته وژباړل شوې او په اروپایي پوهنتونونو کې د درس په اصلي سرچینو بدلې شوې. د راجر بیکن او یوهانس کپلر په څیر پوهانو د هغه له نظریو څخه

الهام واخیست او د رڼا پوهنې او علمي میتود په ډګر کې یې د هغه په لاسته راوړنو باندې اعتراف وکړ.

د ابن الهیثم د اثارو ژوره اغیزه کولی شو په بیلابیلو برخو لکه فزیک، ستورپوهنه او حتی په روانشناسي کې وګورو. د رڼا او لید په اړه د نوموړي کشفونو د مشاهدې او د انسان د چاپیریال سره د تعامل د پوهیدو نظریې تکامل ته وده ورکړه. په کره لیدنو او تجربوي ازمایښتونو باندې د نوموړي ټینګار د اروپا علمي انقلابونو لپاره لاره هواره کړه.

سربیره پر دې د ابن الهیثم اغیزې له علمي پولو هاخوا وغځیدې، د رڼا او سیوري قوانین چې د نوموړي په اثارو کې تشریح شوي، د رنسانس دورې هنرمندانو لپاره خورا ګټور ثابت شول او د دوی د لید زاویه او واقعیت انځورولو بڼه یې بدله کړه. د نقاشۍ او معمارۍ پرمختګ چې د رڼا او سیوري د متقابلو اغیزو پر بنسټ ولاړ و، هماغه بنسټیزو اصولو ته ورګرځي چې ابن الهیثم ثابت کړي وو.

د ابن الهیثم ژوند او کار د علمي روحیې یوه نمونه ده چې د اسلامي زرینې دورې یوه مهمه ځانګړنه وه. د رڼا پوهنې، ریاضیاتو او علمي میتودولوژۍ په برخو کې د نوموړي نوښتګرو هڅو داسې اغیزې پریښې دي، چې د علم په تاریخ کې یې ساري دي. ابن الهیثم د ړندو تقلیدونو په ځای د تجربوي ازمایښتونو څخه دفاع وکړه او د لیدنې په اهمیت یې ټینګار وکړ. له دې سره نه

يوازې د رڼا او ليد په اړه پوهه زياته شوه، بلکې د عصري علمي ميتود د راڅرګندېدو لپاره يې هم لاره هواره کړه.

د ابن الهيثم کيسه د کنجکاوي، نوښت او د نه ستړي کېدونکي علمي هڅو يوه روښانه نمونه ده. د نوموړي ميراث لا هم پوهانو، څېړونکو او هنرمندانو ته الهام ورکوي او د بيلابيلو علمي برخو ترمنځ متقابلې اړيکې او د بشري پوهې د پرمختګ په بهېر کې د نوښتګر فکر تلپاتې اغېزې په ګوته کوي. د ابن الهيثم په درناوي موږ نه يوازې د يو ستر عالم مقام ته احترام وړاندې کوو، بلکې هغه بډايه فکري ميتود هم ستايو، چې د طبيعي نړۍ په اړه يې زموږ پوهې ته شکل ورکړی. د نوموړي ژوند د فکري لاسته راوړنو يو ځراغ دی چې د څېړنې بدلون راوړونکی ځواک او د پوهې نه ختمېدونکی تعقيب انځوروي.

سرچينې:

د ۲۱ مې پېړۍ ريفرينس:


۱. www.google.com

۲. www.amazon.com

٣. www.wikipedia.com

٤. ChatGPT

٥. www.youtube.com

٦. "The Internet Encyclopaedia of Philosophy

٧. "Major periods of Muslim education and learning". *Encyclopedia Britannica Online*


كتابونه:


١. Masic, Izet (٢٠٠٨). "Ibn al-Haitham--father of optics and describer of vision theory"

٢. Esposito, John L. (٢٠٠٠). *The Oxford History of Islam*. Oxford University Press.

# ولې اسلامي زرین دور له زوال او انحطاط سره مخ شو؟

د اسلامي زرين دور د اتلانو د ژوند په اړه له مطالعې څخه داسې څرګندیږي چې دا عصر د فکري او کلتوري برياو يوه ستره ټولګه ده چې د اتمې څخه تر دیارلسمې زيږديزې پېړۍ پورې په اسلامي نړۍ کې پيښ شوي دي. په دې دوره کې مسلمانو پوهانو په بيلابيلو علمي برخو لکه رياضيات، طبابت، فلسفه، ادبيات او معماري کې حيرانوونکې پرمختګونه ترلاسه کړي دي.

هغه مهمې پوښتنې چې زموږ په فکر کې راګرځي هغه دا دي چې له اسلامي زرين دور سره څه وشول؟ او کوم لاملونه د هغه د زوال سبب شول؟

د پورتنیو پوښتنو په ځواب کې بايد وويل شي چې د اسلامي زرين دور زوال د بيلابيلو سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او کلتوري لاملونو د ترکيب له امله و چې په ګډه يې د دې تاريخي دور ټولې لاسته راوړنې په سيند لاهو کړې.

د هغو لاملونو لنډيز په لاندې ډول دی:

۱. سیاسي ټوټه کیدل:

د اسلام زرین دور ډیره تکیه په یو واحد سیاسي جوړښت وه چې عباسي خلافت نومیده او دې خلافت به څیړونکو، هنرمندانو او پوهانو ته لازمې اسانتیاوې برابرولې. خو په ۹ مه او ۱۰مه زیږدیزه پېړۍ کې د عباسیانو مرکزي قدرت د داخلي سیالیو، د ځای ناستي ټاکل کیدو په سر اختلافونو او د سیمه ییزو قدرتونو راڅرګندیدو له امله کمزوری شو. د ځینې خپلواکو لړیو لکه د افریقا په شمال کې د فاطمیان او په هسپانیې کې د بني امیه راڅرګندیدا یو متفرقه سیاسي فضا رامنځته کړه. د قدرت دا تمرکز ماتول د همکاري هغه ګډه روحیه کمزروې کړه چې کلتوري تبادله او نوښتونه یې رامنځته کړي وو، څکه ټولې سیمې په خپلو محلي حکومتونو او داخلي ستونزو کې بوختې شوې وې.

۲. جګړه او یرغل:

اسلامي نړۍ د بې شمیره او دوامداره یرغلونو سره مخ شوه چې د ثبات او پرمختګ پروسه یې ګډه وډه شوه. په ۱۲۵۸ زیږدیز کال کې مغولو په بغداد چې د اسلامي نړۍ کلتوري زړه بلل کیده، ستره حمله وکړه او هغه یې چور کړ او د عباسیانو د خلافت لړۍ یې هم پای ته ورسوله. د دې یرغلونو په پایله کې کتابتونونه، ښوونځي او موسسې له منځه ولاړې او په

ډېره ویروونکې توګه یې د اسلامي نړۍ فکري میراث ته د پای ټکی کیښود. د دې سرېیره هغه صلیبي جګړې چې د یوولسمې زېږدیزې پېړۍ په وروستیو کې پیل شوې وې د سرچینو او وړتیاو ټول تمرکز یې د داخلي پرمختګ په ځای د جګړې خواته وګرځاوه او د مسلمانانو ټولنې یې له سیاسي او اقتصادي نظره ستړې کړې.

۳. ا قتصادي رکود:

اقتصادي پرمختګ، چې د اسلامي زرین دور ملاتړ و، په هغو مهمو سوداګریزو لارو پورې تړلی و چې درې لویې وچې لکه اروپا، افریقا او اسیا یې سره نښلولې. خو کله چې اروپايي سمندري قدرتونو د نویو لارو په کشف او د تجارتي شبکو په جوړولو پیل وکړ، نو هغه دودیزې ځمکنۍ تجارتي لارې چې د اسلامي نړۍ له قلمرو څخه تېرېدې هغوی خپل ارزښت له لاسه ورکړ. د اقتصادي جریان دې تغیر د ډېری اسلامي هیوادونو مالي زیربناوې کمزورې کړې او د علمي فعالیتونو لپاره یې په بودیجې کې کمی راوست. پر دې سرېیره د یرغلونو په وړاندې د دفاعي لګښتونو زیاتوالي او د سوداګریزو عوایدو له لاسه ورکول له اقتصادي پلوه د اسلامي نړۍ ملا ماته کړه او د بې وزلۍ او بې ثباتۍ لامل شول.

### ٤. مذهبي تعصبات:

د اسلامي نړۍ پراختیا سره په ځانګړې توګه د یوولسمې زیږدیزې پېړۍ څخه وروسته مذهبي افراطیت او د فلسفي فکر په وړاندې له کینې څخه ډکې نیوکې ورځ تر بلې په زیاتیدو وې. محافظه کاره غورځنګونه او هغه عالمان چې د اسلام په اړه به یې سختګیرانه تفسیرونه تبلیغ کول، ورو ورو رامیدان ته شول او د پخوانیو عالمانو عقل پالنه او علمي میتودونه یې بدعت وګڼل. په اسلامي نړۍ کې د دې روحیې بدلون د دې لامل شو چې روشنفکره فعالیتونه وځپل شي، داسې چې ډیری پوهان یا وځورول شول او یا هم خپلو سیمو پریښودو ته اړ ایستل شول. د علومو، فلسفې او هنر څخه د ملاتړ کمښت، فکري پرمختګ په ټپه ودراوه او حتی د تحقیق پر بنسټ کلتور څخه د شاتګ لامل شو چې د اسلامي زرین دور یوه مهمه ځانګړنه وه.

### ٥. د علم او فلسفې سره د لیوالتیا له منځه تلل:

په دیني زدکړو تمرکز د علمي څیړنو د کموالي په قیمت تمام شو، چې دا د یو کلتوري بدلون نښه وه. د مسلمانانو عقیدوي جر او بحثونه علمي بنسټونو ته لار ومونده او هغه علمي څیړنیز کلتور چې پخوا اوج ته رسیدلی و د وخت په تیریدو سره له منځه ولاړ. په دې شرایطو کې هغه پوهانو چې یو

وخت به یې د ریاضیاتو، ستورپېژندنې، طبابت او فلسفې په ډګر کې په ډېره لیوالتیا سره خپل فعالیتونه ترسره کول د انزوا حالت ته ولاړل. په دې ترتیب سره د پخوانیو دورو ډېرى اثار یا هیڅ ونه ژباړل شول او یا هم بې ارزښته وګڼل شول. په داسې فکري چاپیریال کې چې انتقادي فکر او نوښت ته پکې ځاى نه و، بالاخره یې د علمي پرمختګونو لړۍ په ټپه ودروله.

### ٦. طاعون او روغتیايي بحرانونه:

"تور مرګ" په ۱۴مه زېږدیزه پېړۍ کې د اسلامي نړۍ نفوس ته سخت زیان ورساوه په داسې حال کې چې په اروپا کې هم وشوه. دا پراخه مرګ ژوبله د کاري ځواک کمښت، اقتصادي رکود او ټولنیزې بې ثباتۍ لامل شوه. د ټولنو فلج کېدل او د سوداګریزو شبکو کمزوري کېدل د اسلامي نړۍ ستونزې لا ډېرې کړې. د عامې روغتیا بحرانونو هغه علمي او کلتوري فعالیتونه چې اسلامي عصر ته یې هویت ورکاوه، د هغوى دوام یې له ستونزو سره مخ کړ. ځکه چې ټولنې یوازې د ویرانۍ له خاورو څخه د راپورته کېدو په لټه کې وې.

### ٧. استعماري تیري:

د منځنیو پېړیو په پاى او د عصري دور په لومړیو کې اروپايي قدرتونو د اسلامي نړۍ په خاوره خپل نفوذ ډېر کړ او د مستعمرو په جوړولو یې پیل وکړ. د استعمار راڅرګندېدا نه

یوازې محلي سیاسي جوړښتونو ته زیان ورساوه بلکې داسې
بهرني اقتصادي سیستمونه يې تحمیل کړل چې د خلکو د
ژوند تیرولو دودیز میتودونه يې له ستونزو سره مخ کړل. د
منابعو څخه په غیر عادلانه توګه ګټه پورته کول او د بهرنۍ
واکمنۍ تپل د ډیری اسلامي ټولنو خپلواکي او کلتوري هویت
کمزوری کړ. د استعمار فشار هغه بیلابیل فکري او کلتوري
فعالیتونه چې په اسلامي زرین دور کې د پرمختګ په حال کې
و، د ستونزو سره يې مخ کړل.

# ولې لویدیځ بریالی شو؟

د دې کتاب په لومړیو برخو کې مې له تاسې سره "درې بنسټیزې پوښتنې" شریکې کړې وې. اوس دلته دریيمه شمیره پوښتنه په دې ډول تکرار او ټینګار پرې کوم:

ولې په لویدیځ کې د اسلامي زرین دور د اتلانو فکرونه او لاسته راوړنې د علمي، سیاسي او صنعتي انقلابونو لپاره الهام بخښونکي شول خو په ختیځ کې نه شول؟

دا پوښتنه، کنجکاو فکرونه د هغو تاریخي تحولاتو مجموعې ته راګرځوي چې د بیلابیلو سیاسي، کلتوري او ټولنیزو عواملو په وسیله رامنځته شوې ده. له دې ډلې څو کلیدي دلیلونه شته چې لویدیځ ته یې د پرمختګ لاره هواره کړه:

۱. تجزیه او سیاسي ثبات:

اسلامي نړۍ د منځنیو پیړیو په پای کې د سیمه ییزو قدرتونو راڅرګندیدو او د داخلي اختلافونو رامنځته کیدو له امله تقریبا له سیاسي بې ثباتي او تجزیې سره مخ شوه. خو په مقابل کې د اروپا ځینې برخو د قدرتونو په تدریجي ډول متمرکز کولو سره د دولت - ملتونو (Nation-States) جوړیدو ته لاره هواره کړه.

نومورو اروپايي قوي سياسي نظامونو د علمي څېړنو او د ټکنالوژۍ پرمختګ لپاره د دوامداره پانګه اچونې زمينه مساعده کړه.

۲. فکري تبادله او پوهنتونونه:

اروپايي پوهانو د رنسانس په دوره کې د اسلام زرين دور علمي ميراث پر بنسټ خپلو ژباړو او څېړنو ته ادامه ورکړه. اروپايي پوهنتونونه په داسې علمي مرکزونو بدل شول چې په هغه کې به نظريې په ازاده توګه تبادله کيدې او بحث به پرې ترسره کيده. دغه اکاډميک کلتور د چاپ ماشين د اختراع ترڅنګ پوهې ته لاسرسی اسانه کړ او د علمي نظريو خپريدنه يې په ټوله اروپا کې ګړندۍ کړه.

۳. پراختيا غوښتنه او استعماري شتمني:

د اروپا استعمار د علمي څېړنو او صنعتي نوښتونو د مالي مصارفو د تامين په برخه کې ستره ونډه درلوده. د مستعمره سيمو څخه د ترلاسه شويو عوايدو اروپايي هيوادونو ته دا وړتيا وربخښله چې په علم، ټکنالوژۍ او بنسټيزو برخو کې ستره پانګونه وکړي. خو په ختيځ کې په ځانګړې توګه په اسلامي نړۍ کې د اقتصادي ستونزو او استعماري فشارونو له امله د داسې پرمختګونو مخه نيول کيده.

## ٤. مذهبي او کلتوري عوامل:

د اسلامي نړۍ ځينې برخو د زرين دور د زوال په وخت او له هغه وروسته مذهبي تعصبونو ته مخه کړه او ځينې عالمانو او واکمنانو د ځانګړو فلسفي او علمي څېړنو په وړاندې مخالفت وکړ. خو په مقابل کې د اروپا د روښنايي دوران د دولت او کليسا جلاوالی تجربه کړ او د روښانه فکر څښتنان ټول د استدلال، ازمايښت او عقلاني شکاکيت څخه په دفاع راپورته شول چې علمي پرمختګونو ته يې لاچټکتيا ورکوله.

## ٥. صنعتي انقلاب او د ټکنالوژۍ چټک پرمختګ:

د اسلامي زرين دور له نظريو څخه د اروپا هرکلی د صنعتي انقلاب له پيل سره په يو وخت کې رامنځته شول، نوموړې دوره د بې سارې ټکنالوژيکي او اقتصادي بدلونونو لامل شوه. دې دورې په داسې حال کې د نوښتونو او پرمختګونو نه ختميدونکې لړۍ رامنځته کړه چې ډيری ختيځې ټولنې د داخلي ستونزو او بهرني فشار له امله اقتصادي او د ټکنالوژۍ له زوال سره مخ وې.

په لنډه توګه ويلی شو چې: که څه هم اسلامي زرين دور د علم، رياضيات او فلسفې په برخه کې د ډيرو پرمختګونو بنسټ

کيښود، خو بيلابيلو تاريخي لاملونو لکه سياسي تجزيه، استعمار او مختلفو کلتوري لارو ثابته کړه چې د هغه مهال نظرېي او لاسته راوړنې په لوېديځ کې د علمي، سياسي او صنعتي انقلابونو په رامنځته کولو کې ډېر اغېزمن ثابت شول.

# زموږ له شرمه ډکه کیسه

د اسلامي زرین دور کیسه زموږ د شرم کیسه ده. هو، زموږ د مسلمانانو او افغانانو د شرم کیسه ده، ځکه چې هیڅ یو زموږ له اسلامي زرین دور سره اشنایي نه لرو. همدارنګه ما تر اوسه د هیڅ افغان او مسلمان له خولې دا مهم عبارت نه دی اوریدلی.

ولې؟

په حقیقت کې ولې د اسلامي زرین دور د اتلانو نومونه او شهرت په اسلامي نړۍ کې هېر شوي، خو تر نن ورځې پورې په لویدیځ کې ژوندي او په ویاړ سره یادیږي؟

ولې ما د خپلې څیړنې په جریان کې د مسلمانانو څخه داسې کومه کره سرچینه ونه موندله چې د دې کتاب لیکلو لپاره پرې تکیه او استناد وکړم. او ولې په دې برخه کې ټولې سرچینې په لویدیځ پورې تړلې دي؟

موږ باید په رښتینې توګه دا ومنو چې موږ مسلمانان داسې خوبوړي ملتونه یو چې له خپلو کلتوري او علمي ریښو څخه پرې شوي یو او په ځای مو یې خرافاتو ته مخه کړې ده.

دا خورا د شرم خبره ده که چیرې لویدیځوالو زموږ د مسلمانو اتلانو د علمي مقام ستاینه نه وی کړې، نو موږ به د دې اتلانو او اسلامي زرین دور نوم هم نه وی اوریدلی.

# وروستۍ وینا

نن ورځ لویدیځه نړۍ د یو مهم او برخلیک ټاکونکي پړاو په پیل کې ده چې څلورم صنعتي انقلاب یې بولي. له بده مرغه چې د لومړي، دوهم او دریيم صنعتي انقلابونو کښتۍ په داسې حال کې زموږ له څنګ تیرې شوې دي چې موږ د غفلت په خوب ویده وو.

خو دا کتاب په ښکاره توګه د یو ستر تاریخي حقیقت ښکارندویي کوي او هغه دا دی چې موږ د ختیځ اوسیدونکي د فکري افق، د نوښت ځواک، د پنځونې زړورتیا او د اختراع  هنر درلودونکي وو او دا مو د پینځو پیړیو څخه د ډیر وخت لپاره ثابت کړي دي.

په موږ څه وشول؟ او ولې پیړۍ تیرې شوې خو موږ لا هم د غفلت په خوب ویده یو؟

ما په دې کتاب کې هڅه کړې چې دې ډول پوښتنو ته یو څه ځوابونه پیدا کړم.

اوس زه د افغانستان له نوي نسل او راتلونکو نسلونو څخه غوښتنه کوم چې دا کتاب ولولي او وې څیړي، او د هغه ژور پیغامونه ترلاسه کړي او په پای کې له خپل ځان څخه اساسي او مهمې پوښتنې وپوښتي.

لویدیځې نړۍ په تیرو ۲۵۰ کلونو کې ستر بریالیتوبونه ترلاسه کړل لکه د سواد کچې ۱۰۰ سلنې ته لوړول، د ټولنو نږدې ۱۰۰ سلنه کاري ځواک په کار ګمارل، وړیا ښوونیز او عامه روغتیایي خدمتونه رامنځته کول، د نړۍ په کچه د غوره زیربناو جوړول او د چاپیریال ساتنه.

موږ ولې نه شو کولی چې داسې سترې بریاوې ترلاسه کړو؟

دا کتاب اصلاً د دې لپاره لیکل شوی چې په ذهن کې مو پوښتنې پیدا کړي او ورو ورو تاسې د نوښتونو، پنځونو او اختراع ګانو خوا ته وهڅوي.

هیله مند یم چې دا کتاب به د افغانستان د راتلونکو نسلونو لپاره د یو غوره افغانستان د جوړولو په لاره کې ګټور او لارښود واقع شي.

پای